


Ketabton.com

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library




Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د كتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||

د كتاب نوم : نامريي ځواك

ليكوال : بازمحمد عابد

دپښتۍ انځور : صديق ژكفر

خپرندوی : افغان ادبي بهير

اهتمام : مصطفی سالک

چاپ نېټه : ۱۳۸۲ لمريز

شمير : ۵۰۰ ټوکه

چاپځی : دانش كتابتون، قصه خواني بازار، پيښور

Ph: 2564513/ E- mail: danish2k2000@yahoo.com

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

د " بهیر" د یارانو په نوم چې زه یې کیسې لیکنې ته هڅولې یم

عابد

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## عابد په نامريي څواک کې

نه يوازې زمونږ په هيواد بلکې په ټوله نړۍ کې له پخوا زمانو راهيسې د شعر او نظم حکمراني ښه په درز کې روانه وه. خو دوخت په تيريدو ورو ورو د شعر او نظم د حاکميت واکې سستې شوې او ځای يې نثر ونيوه.د پښتو ادب په نړۍ کې لا تر اوسه د شعر او نظم حکمراني هماغسې په خپل ټول قوت او زور چليږي. په هر کال کې په لسګونو شعري ټولګې له چاپه راوځي، خو د نثري کتابونو چاپ بيا د ګوتو په شمار دی. بازمحمد عابد هم د نورو پښتنو ليکوالو په څير لومړی خپل قلم په شعر خوځولی دی، خو په دې وروستيو وختونو کې يې سمدلاسه د شعر له نيلي نه د نثر ميدان ته راودانګل او د ادبي هلو ځلو پايلې يې دادی اوس ستاسو تر مخ د لنډو کيسو په فورم کې غوړيدلي دي. دا چې عابد ولې د لنډې کيسې لوری نيولی دی، فکر کوم هغه په دې باور درلود چې دکيسې د اوريدنې او وينې سره مينه او شوق د انسان په خټه او فطرت کې اغږل شوی دی. همدا علت دی چې په تيرو وختونو کې به ډلې ډلې خلک په ديرو او حجرو کې راټوليدل او کرۍ شپه به د کيسو په اوريدنو سبا کوله. خو کله چې دانسان مشغولتيا او مصروفيتونه زيات شول نو د اوږدو کيسو د اوريدنې وخت هم ورسره کم شو. د دغې تشې د ډکولو له امله په نولسمه پيړۍ کې د اوږدوکيسو( ناول او رومان) تر څنګ لنډه کيسه په اوسنۍ بڼه او فني مفهوم رامنځ ته شوه پښتو ادب ته لنډه کيسه د شلمې پيړۍ په پيل کې لومړی د انګريزي ادب نه اردو ته او د اردو نه بيا پښتو ته راغله. د ځينو تاريخ ليکونکو په وينا په پښتو ادب کې د لنډې کيسې لومړنی ليکوال راحت زاخيلی صاحب دی چې د (کونډې نجلی) په نامه يې لنډه کيسه ليکلې ده. د شلمې پيړۍ په وروستيو کې لنډه کيسه يو څه ګړندۍ شوه او تر ننه پورې دادی ښه چابکه را روانه ده. بازمحمد عابد هم د دې کاروان په يون کې ورګډ شوی او خپله لومړنۍ ټولګه يې د ( نامريي څواک ) په نامه بللې ده. ما ته چې کله عابد ددې کتاب مسوده راکوله، نو زما وړانديز ورته دا و: زه به خپل ملاحظات په پنسل درته وليکم، وروسته فکر ورباندې وکړه، که په نظر سم درغلل هغه به اصلاح کړې او که سم نه و مه ورپسې ګرځه. عابد په موسکا کې را ته وويل: تغير او بدلون مې په وس نه دی پوره، څه چې په دې مسوده کې ليکل شوي دا بشپړ وګڼه. زه يو څه ټکنی شوم؟ خو په هر حال د عابد زياتې کيسې پخوا ما په مجلو کې لوستې وې او ډيرې مې خوښې شوې هم وې نو ځکه مې په ډايه زړه يو ځل بيا د هغه د کيسو په لوستلو پيل وکړ .

د عابد کيسې د موضوع له پلوه ډيرې ښې په زړه پورې او رياليستيکه بڼه لري او زمونږ د ټولنې د ژونديو واقيعتونو يو ښکلی انځور دی. کرکټرونه يې هم د لنډې کيسې په تول پوره دي، د ګونګو او بې ځايه کرکټرونو څخه په کلکه ډډه شوی، ژبه او نثر يې هم خوږ دی. د وخت له پلوه هم چې وايي: لنډه کيسه بايد په يوه ناسته کې وويل شي؛ په تول پوره دي.البته د( ښاپيری او ديو) ترعنوان لاندې چې څه ليکل شوي، کيدای شي چې ادبي ټوټه يې وبولو، نه لنډه کيسه. همدا رنګه زماله نظره په ځينو کيسوکې يو څه فني نيمګړتياوې هم شته. د بيلګې په توګه ( او په کړس کړس مو وخندل ) په کيسه کې پيل له پای سره په مستقيمه ليکه تړل شوی، غوټه يې صعود او نزول نه لري. نو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ځکه يې سسپنس ( تلوسه ) هم کمزورې او کيسې يوه ژورناليستيکه بڼه خپله کړې ده. همدا رنګه په ځينو کيسو کې منطقي استدلال هم د تامل وړ دی. د بيلګې په توګه : د ( ميا صاحب ) په کيسه کې د ميا کرکټر د خلکو په اصطلاح لوڅ برق دی. په هر لوښي کې د هغه لوښي رنګ غوره کوي، نو بيا د دوه ګوتو د ليک په تهديددومره ژر ځان بايلي چې دوه مياشتې له کاره پاتې کيږي. که په دې برخه کې کيسه لږه نوره هم غځيدلې وای او د ده نورې داسې چالاکۍ هم ښودل شوای وای چې ميا صاحب څنګه د تور غر قوماندان ته ځان رسوي او ځان له دې ستونزې راوباسي نو کيسې به يو څه طبعي بڼه غوره کړې وای. په هر حال زه دا نه غواړم چې کره کتنه وکړم. يوازې خپل نظر مې څرګندکړ، کيدای شي ځنې لوستونکي يې په همدې بڼه خوښه کړي .

لنډه دا چې عابد زما په نظر د لنډې کيسې په ډګر کې لومړني ګامونه ايښي خو ګامونه يې پاخه او درانه دي. اميد لرم چې په راتلونکې وختونو کې به د حقيقت سره د خيال په مټو د لنډې کيسې په فورم کې نورې ښې پنځونې هم وکړي. زه عابد ته دلنډو کيسو د لومړۍ ټولګې د چاپ مبارکي وايم او هيله لرم چې تاسې به هم د هغه له خوږو کيسو خوندواخلۍ

ديپلوم انجنير ستانه مير زهير

پيښور ښار_ ۰۸/ ۰۹/ ۲۰۰۳

Download from: ketabton.com

## میا صاحب

ځان یې په میا صاحب مشهور کړی و، چالاکه سړی و، د جلال آباد د لارې ډریورانو او کلینډرانو یې نه یوازې دا چې قدر کاوه، بلکې کرایه به یې هم ځنې نه اخیسته.

په لاره به چې روان و هسې په هسې به یې آواز کاوه چې: " بچ شه بچیه! میا صاحب ته لاره ورکړه"

زموږ د نورو ډیرو کلیوالو په څیر یې د رخت د قاچاق کار کاوه.

یوه ورځ چې د قاچاق امر تورخم ته راغلی و، نو د گمرك مامورینو لاره ډیره سخته کړې وه او که په چا به یې لاس بر شو، نو د رخت گنډه به یې ترې واخیسته او د ضبط په کوټه کې به یې ترې واچوله. تیر مازیگر و چې د تورخم دروازه د گنډه مارو پر مخ خلاصه شوه. په لږه شیبه کې اوه اته موټرې له گنډه مارو څخه ډك شول او یو پر بل پسې د روانیدو په حال کې وو.

زموږ موټر په دوهم لمبر حرکت وکړ. دوه درې میله مزل به مو لا نه و کړی، چې د ناتارو ډزو آوازونه مو واوریدل. ډریور موټر د دوه غرونو تر منځ چې د سرك پر غاړه واقع وو- ودراوه.

له موږ نه د مخه چې کوم موټر حرکت کړی و، مجاهدینو د شلمان په لور گرځولی و. دوه تنو مجاهدینو د شلمان له گرځوني څخه زموږموټر ته په څادر خوځولو سره د حرکت کولو اشاره راکوله. زموږ ډریور چې رنگ یې الوتی و، له ځایه هم نه ښوریده. مجاهدینو زموږ په موټر ډزې پیل کړې او یوه سترگه یې ورته ناکاره کړه. بیا هم زموږ ډریور د حرکت جرئت ونه کړ، نو مجاهدینو زموږ په لور پیاده حرکت راوکړ. یو څه اندازه چې رالنډ شول، نو میا صاحب خپل خیرن څادر د تور سرك په غاړه قبلې ته هوار کړ او په لمانځه ودرید. مجاهدین دومره رالنډ شول چې د پښو کشاری یې هم اوریدل کیدو، نو میا صاحب د پیش امام په څیر په جار سلام وگرځاوه او په لوړ آواز یې وویل:

"سترې مه شئ مجاهدینو ورونو، سترې مه شئ".

او بیا یې هغه څادر چې لږه شیبه له مخه یې ترې د جانماز کار اخیستی و، ځولۍ کړ او غاړې ته یې واچاوه او و یې ویل:

واچوئ مجاهدینو ورونو ته چنده واچوئ، د حق په لاره کې جنگیږي او داچنده یې پر موږ او تاسې حق ده.

هر چا له خپلې ویرې دوه سوه او درې سوه افغانۍ چنده ورکړه. بلا پیسې ټولې شوې. میا صا حب له څادر سره پیسې مجاهدینو ته ورکړې یوه وویل: مشره! دا څادر دې ترې واخله. مگر میا صاحب ورته وویل: نه بچیه! څادر هم درسره یوسئ، چیرته خو به ترې د جانماز کار واخلئ، زما به هم ثواب درسره وشي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د چندي له برکته زموږ پر مخ لاره خلاصه شوه او موټر حرکت وکړ. د شلمان ګرځوني ته چې ورسيدو، ومو ليدل چې مجاهدينو يو عسکري موټر سوځولی و او څلور تنه عسکر يې هم وژلي وو. سکنې ماښام و چې کمې ډکې ته ورسيدو، په کمه ډکه کې عسکر برچه پك ولاړ وو، زموږ د موټر مخې ته راغله او د لارې پوښتنه يې وکړه. ميا صاحب چې په مخکې سيټ کې ناست و، سر ور وايست او ويې ويل: " سره کافر راوتي دي، سره کافر" .

عسکرو په يوه منډه ټانکونو ته ځانونه ورسول او د تورخم پر لور يې حرکت وکړ او موږ په خپله مخه روان شو. تياره په خوريدو وه، کابو ماخوستن و چې ګردي غوث ته نيږدې شوي وو. دا ځل ميا صاحب له سر نه خولۍ را واخيسته او داسې يې وويل:

"د ظالم بچوا! له مرګ نه خدای وساتلو. واچوئ د ګردي غوث چنده واچوئ. " او هر چا د خپل سر د صدقې په خاطر خپل وس چنده وکړه. ميا صاحب له خولۍ نه څه پيسې په موټې کې نچوړې کړې او څه يې په خولۍ کې پريښودې او پر سر يې کړه.

په دې وخت کې ډريور موټر د ګردي غوث په تم ځای ودراوه. ميا صاحب له شيشې نه موټۍ بهر کړ او ډريور ته يې وويل: استازه! حرکت وکړه، پيسې مې ورکړې. خو په حقيقت کې د ګردي غوث منجاور د مياصاحب په موټۍ په دواړو لاسونو زورونه کول، خو مجال و که ميا صاحب موټۍ سستولو. په څه شواخون څه پيسې د منجاور لاس ته ورغلې او څه پيسې ميا صاحب د واسکټ په جيب کې تخته کړې.

زه له مياصاحب سره په نيږدې سيټ کې ناست وم، يوه ټوټه مزل مو چې وکړو، نو د مياصاحب وار ونه شو، له جيب نه يې يو، يو نوټ را ايسته او په ورانه به يې اواروه. ما ترې په خبرو خبرو کې پوښتنه وکړه چې: ميا صاحب که خدای مې نه غلطوي، تا خو په تورخم کې اودسماتی وکړ، ته چې هلته پر لمانځه ودريدې، اودس دې چيرته تازه کړی و؟

ميا صاحب وويل: د ظالم بچيه اودس خو لا څه کوې چې پر لمانځه کې مې هم څه نه دي ويلي او هغه څادر مې هم بې نمازه و. او په خبرو خبرو کې تير ماخوستن خپل کلي ته ورسيدو .

څو ورځې ميا صاحب کار ته لاړ نه شو، يوه ورځ مې ترې پوښتنه وکړه چې: ميا صاحب ولې کار ته نه ځې؟ ميا صاحب وويل: " بچيه لارې خرابې دي، لارې .

مياصاحب زموږ په ګاونډ کې اوسيده، يوه ورځ چې څنګه خپل کور ته ننوتم، ميا صاحب هم راپسې ور وټکاوه. ور ووتم، و مې ليده چې ماشوم بچی يې په ترخ کې نيولی او يوه د خط لفافه يې په لاس کې ده، ويې ويل: " ته وګوره بچيه! چې دا خط چا راليږلی دی، ما خو په عمر کې له چا سره د خطونو معامله نه ده کړې؟"

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



خط مې خلاص کړ او ناڅاپه مې له خولې نه ووتل: د تور غر د مجاهدینو د جبهې له خوا. میا صاحب تندي ته تړس ورکړ او ویې ویل: " دا څه وایې دا! نور یې څه لیکلي دي. " او ما ورته د خط په لوستلو پیل وکړ.

"میا صاحب ستا په ښکاره شیطانت حکومتي قوي زموږ پر مجاهدینو حمله وړې وه، چې څلور تنه مجاهدین شهیدان شوي او هم یې له موږڅخه درنې وسلې نیولې دي، تا ته مو خبر درکړ، د دې هر څه ذمه وار ته یې ، د خپل مرگ انتظار وباسه" .

میا صاحب چې د خط متن واوریده، یو ځل بیا یې تندي ته تړس ورکړ. مړه خوله پرې را ماته شوه. زوی ته یې مخ راواړوه او ویې ویل: " بچیه، د لوړې به مړه شئ، زه پوهیدم دا ظالمان ما ژوندی نه پرېږدي. دا ټکه مې لا څو ورځې د مخه په زړه خوړلې وه، چې یوه ورځ نه یوه ورځ به مې دا ظالمان وژني" .

میا صاحب په ژړا او فریاد سرو، په دواړو لاسونو یې قوده قوده ږیره له مخه شلوله او په سرو سترگو یې د خپل کورمخه ونیوله. تقریباًً دوه میاشتې کار ته لاړ نه شو، په کلي کې هم په ویره ویره گرځیده، نیږدې و چې له لوږې سره مخ شي، زه هم خپل ضمیر ملامته کولم، یوه ورځ مې ورته وویل: میا صاحب، څه بې غمه دې خپلې گنډې کوه، هغه خط درته ما لیکلی و.

1988/ 02/ 03

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# بې وخته اختر

چې خدای (ج) ته ښکاره وي، نو له بنده ګانو یې څه پرده. که رښتیا راباندې وایې، سږ کال خو مې تر پنځه ویشتمې روژې پورې د تراویح یو لمونځ هم نه و کړی، بلکې د ماخوستن لمونځ به هم رانه اکثر قضاء و.

د روژې شپږویشتمه شپه وه، چې د تره زوی مې له نږدې مدرسې نه قاري صاحب راوست. غوښتل یې چې په کور کې سره په ګډه ختم شریف ادا کړو. چا ته چې په ختم کې د ګډون بلنه ورکړی شوې وه، تقریباً پوره شوي وو. اودس مې وکړ. وټاکل شوه چې په درې شپو کې به ختم سر ته رسوو. قاري صاحب د ښکلې نوراني ږیرې سره ښکلی بلبلي غږ هم درلود او په ښکلي ترنم یې په اوله شپه څوارلس سپارې قرائت کړې .

د چایو په وقفه کې مې ترې پوښتنه وکړه چې قاري صاحب په سږنۍ روژه کې دې دا څویم ختم دی؟ قاري صاحب را ته وویل: د خدای (ج) کرم دی، خبره له شمیره وتې ده. د روژې له اولې شپې نه مې ترلسمې شپې پورې په مدرسه کې طالبانو ته ختم کړی دی. او بیا مې تر اوسه د دوستانو په دیرو کې د درو او څلورو شپو ختمونه ورکړي دي" .

په دوهمه شپه حجرې ته دوه درې دقیقې وروسته ورغلم. د ماخوستن جمعه ولاړه وه. د لمانځه نیت مې وتاړه. د حجرې په کونج کې مې د خوږو په قوتیو نظر پریوت، په زړه کې مې راوګرځېدل چې کیدای شي د ختم اجنډا تغییر موندلی وي. د سنتو په وقفه کې مې د سترګو په کونجونو کې له یوه ملګري نه پوښتنه وکړه. هغه راته وویل:

"قاري صاحب چیرته د درې شپو ختم نیولی دی او زموږ ختم نن شپه ختموي " .

شپه تر نیمایي اوښتې وه، چې ختم شریف تر سره شو. قاري صاحب به لس پنځلس دقیقې په عربي او پښتو ژبو دعا ګانې ویلې او د ختم ګډون کوونکیو به دآمین په مزو ترېلې. هر چا د خوږو قوتۍ او ځانونه قاري صاحب ته نږدې کو ل چې د برکت دم پرې چوف کړي. او بیا هر چا د شکرانې په توګه قاري صاحب ته چنده ورکړه، بلا پیسې ټولې شوې او قاري صاحب په ډېره خوښۍ د شپې په څلورم پار کې د مدرسې لاره ونیوله.

قاري صاحب وروستی ختم هم زموږ په کوڅه کې په نږدې حجره کې نیولی و. په دوه شپو کې یې شپږ ویشت سپارې قرائت کړې وې. نهه ویشتم روژه ماتچې څنګه وشو، لړه شیبه به لا تیره نه وه، چې د ښا و خوا علاقو نه د اختر د ډزوآوازونه پورته شول. زموږ په علاقه کې هم سرمستو ځوانانو دکلاشنکوفونواو تمانچو ډزې وکړې. دماخوستن تراذانه پورې د ډزوآوازونه دنژدې اولږې سیمونه اوریدل کیدل. زموږپه کوڅه کې چې چا د دریو شپوختم نیولی و، دهغوی له حجرې نه هم دکلاشنکوف ضربې چلیدلې دغه وخت قاري صیب په حجره راننوت اودسلام نه وروسته یې وویل :

ورونو اودسونه کوئ چې داڅلور پارې هم په خیر سره په ګینټه نیمه کې سرته ورسوو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يوه ځوان چې دکلاشنکوف شپیلۍ یې په سپینه ټوټه پاکوله وویل:

))قاري صیب اوریدلي ې دي چې داخترپه شپه خو څوك تراویح نه کوي .((

قاري صیب وویل:

(( اختر چیرته دی دخدای بنده، سبا خودیرشمه روژه پوره کیږي )). بل ځوان چې دکټ په لنګه ناست واو دسګریټ نه يې اوږده اوږده لوګي ایستل وویل:

))قاري صاحب، خدای دې اجر درکړي، پرېږده چې داختر دشپې نه څه مزه واخلو ((.

قاري صیب چې دکورنۍ مشر ولیده چې حجرې ته رانتوت ويې ویل:

))حاجي صاحب داځوانان نه پوهیږي. دخدای (ج) په عذاب ځانونه اخته کوي. سبا حقه روژه ده . راځئ چې بسم الله کړو، ختم به سرته ورسوو، انشاالله اجرونه به یې خدای (ج) درکړي.((

قاري صاحب به لا نورهم څه ویل خود کور له خوا حجرې ته لس دولس ماشومان په شورماشور راغلل او حاجي صاحب ته یې په فریادونو پیل وکړ. چابه ویلې زما جامې درزي سره پاتې دي، چا به دبوټانو او څپلیو غوښتنه کوله او چابه دجرابو او بنیانونو .

حاجي صاحب دماشومانو دضد په وړاندې تسلیم شو. دلوټونو بنډل یې له جیب نه راوایست. دقاري صاحب په اوږو یې لاس واچاوه دوه درې سوه روپۍ یې ورته په ګوتو کې کیښودې او ورته یې وویل: قاري صاحب دا د اختر برخه واخله. ماشومان دي، ضد کوي. اختر يې جوړکړو. په دعا کې به مو انشاالله نه هیروې .

قاري صاحب بې له دې چې پیسو ته وګوري، په جیب کې یې ننه ایستــې او په تریــو تــندي له حجرې ووت. حاجي صاحب په کشــرزوی غــږ وکــړچــې دماشومانوداختربندوبست وکړي.

داخترله لمانځه وروسته مې څه په شواخون دقاري صاحب خواته ځان وروساوه. ځان راته قاري صاحب ته په مبارکۍ ورکولو پوره وړی ښکاریدو. قاري صاحب دجومات نه په وتو کې و. دشاله خوا مې په اوږه ورته لاس کیښوده او په خوشالۍ مې ورته وویل چې:

قاري صاحب اختر دې مبارك شه سره د واړو ختمونو او روژو. ددې پرځای چې قاري صاحب راته ووایي چې ستادې مبارك شي، وویل:

))ظالمانو بې وخته اختر کړ((.

1999/ 01/ 21

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## مبارکه شپه

په ټوله هفته کې مو د جمعې شپې ته سترګې په لار وي. په زړه کې کرو او ريبو که څوك وطندار راپيښ شي او پروګرام ته مو بوځي. خو زموږ د خوارانو دومره تالې چيرته دي چې څوك مو پوښتنه وکړي. اوس خو خلك په نوم پسې ګرځي، خو بيا هم د جمعې شپې ته انتظار باسو په تيره بيا د مني په شپو ورځوکې چې د ودونو سيزن وي. خو مجال شته که څوك مو پوښتنه قدرې هم کوي.

تيره شپه تر ناوخته په ديره کې ناست وم او سازيان مې چې خامه خوله هلکان دي، هم له ځانه سره ايسار کړي وو. په زړه مې خوړلې وه چې نن شپه به هرو مرو خدای څوك راپيښوي او پروګرام ته به مو بوځي. او دا ځکه چې په سرای کې چې څومره سازنده ګان وو، ګردسره خلکو پروګرامونو ته بوتلي وو. څو وارې طبله چي او ربابي کورونو ته د تلو تکل وکړ، خوپه څه نه څه بانه به مې ايسارول، چې په دې کې دوه تنه ځوانان په سرای را ننوتل او داسې يې وويل:

ـاستاذه، دا ستا په خوا کې ديره ولې بنده ده ؟

ـهغوی خو چيرته پروګرام ته تللي دي.

ـدا خو ښه نه دي شوي، موږ ورپسې له کوم ځايه راغلو او دوی نه شته. دا به څنګه شي، هلته په حجره کې ياران راټول شوي دي او د پروګرام غوښتنه کوي، له تاسې سره به وخت نه وي؟

ـولې نه باداره، تاسې امر وکړئ، له چا پسې چې تاسې راغلي ياستئ هغوی ته هم زما د شاګردی شرف حاصل دی. زه حاضر يم چې له خپلو شاګردانو سره له تاسې سره ولاړ شم. د واده پروګرام دی ؟

ـهو، د واده پروګرام دی، خو واده نن شپه نه دی. څو کسه ياران راټول شوي دي او پروګرام را څخه غواړي. که خوښه دې وي دا طبله چي او ربابي را سره کړه، د سندرو لپاره موږ سره شوقي شته دی.

په زرو روپو مې ورسره خبره جوړه کړه، د ميدان اسره مې هم په زړه کې وغوړيده، باجه مې غاړې ته واچوله او له ځوانانو سره په تکسي کې سواره شوو. په لږه شيبه کې د پروګرام ځای ته ورسيدو، سرمست ځوانان راټول شوي وو، ټوکې ټکالې يې کولې، کوټه د چرسو لوګو په سر اخيستې وه، زموږ په ليدو ځوانانو د " بري" اوازونه پورته کړل، له واره سره مو ساز سُر کړ، په غټه ږيره يو ځوان د ډلې له منځ نه را مخې ته شو او باجې ته کيناست. په سُر او لی نه پوهيده، خو ټوله شپه يې د زړه براس وايسته. زما نظر د يارانو په جيبونو و، هسې که به چا ترخ ګرولو ته لاس اوچت کړو، نو زما په زړه کې به وګرځيدل چې يو څه خو به د سندرمار له سره تاو کړي، خو يارانو پوخ قسم خوړلی وچې سره پيسه به ډمانو ته نه ورکوي. چا هم دا ځواني ونه کړه، شوقي ځوان تر هغې سندرې ويلې چې په کتابچه کې

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يې نوټ کړې سندرې خلاصې شوې. د سهار بانګونو ته به ګنټه نيمه پاتې وه، چې د زرو روپو سره يې رخصت کړو او د ديرې مخه مو ونيوله. څو قدمه به لا تللي نه وو، چې د سړك له غاړې نه را باندې پوليسو غږ وکړ:

_دې خوا راشئ ، د خدای بې لمازانو، له کومې خوا نه راغلئ ؟

_له دې نږدې کوڅې نه صاحبه، پروګرام ته تللي وو.

_پروګرام ته تللي وو، دې خولې ته دې وګوره، ته نه شرميږې چې په دې سپينه ږيره دې باجه غاړې ته اچولې ده او پی مخې هلکان دې ځان پسې کړي دي .

_څه وکړو صاحبه، مجبوري ده، همدا مو کسب دی.

_غلی شه! د مجبور بچيه، دا طبلې او باجې خو تاسې د شوشا لپاره ګرځوئ، کار خو ستاسې دله توب دی، دله توب. څه پوه شوې، چې اوس دې تانې ته بوځم والله که مو نه سر خلاص شي او نه پښې.

_څه جرم خو مو نه دی کړی اولدار صاحب، اخير د يوې کلمې ورونه ياستو، له تاسې سره دا خبره ښه نه لګي.

_غلی شه! د مسلمان بچيه، ته مسلماني پيژنې؟ د جمعې دا مبارکه شپه وګوره او ستاسو ډمتوب وګوره، ټوله شپه دې په ډمتوب رڼه کړې ده په دې مرداره جوسه چې اوده شې نو څنګه به د جمعې مونځ ته پاڅيږې، ته لا د مسلمانۍ خبرې کوې.

د جمعې مونځ پورې خو ډير وخت دی اولدار صاحب، ولې به نه پاڅيږو او که رانه پاتې شو، نو خدای به مو پرې نيسي.

_ډير دليلونه مه وايه، ته دې خوا شه، دا سر دې څنګه په ځای نه ودريږي، لکه چې ټوله شپه دې د چرسو په زور بدلې ويلې دي. پټيبنده، ته دا ولټوه چې چرس خو به ورسره نه وي؟!

_ولټوئ صاحبه، چرسي نه يم، خو لږ شان بې خوبه شوی يم.

پټيبند ورته وويل:

چرس ورسره نه شته اولدار صاحب، خو دوه شنه شنه لوټونه ورسره دي.

_صرف دوه لوټونه نورې پيسې يې څه کړې، دې چوکره ګانو سره خو به يې نه وي سمبال کړي؟ دا چوکره ګان هم ولټوه.

ما ورته وويل:

Download from: ketabton.com

ــنورې پيسې خو چا را نه کړې صاحبه، د واده شپه نه وه هسې پروګرام ته تللي وو .

ــزه خو په ځای وايم چې هسې دله توب پسې راوتي استئ. مخکې خو مې درباندې شك کړی و خو اوس په يقين بدل شو، په تاسې باندې د فحاشۍ پرچه کټ کوم چې درې څلور مياشتې په جيل کې تيرې کړئ، ايله به موعقلونه سرونو ته درشي.

ــد خدای خاطر وکړه اولدار صاحب، د ناحقو دعوې راباندې مه جوړوه. موږ غريب خلك يوو، له مزدورۍ پسې راوتي يوو.

ــزه به تاسې ته دا مزدوري وښيم. ډمان چې پروګرامونو ته ځي، نو په زرګونو روپۍ له ځانه سره راوړي. تاسې سره خو همدا دوه لوټونه دي، چې ستاسې په دله توب دلالت کوي. نورې پيسې مو څه کړې؟ شابه وښايه که نه تانې ته نږدې شوي يوواو چې يو ځل مې تانې ته حواله کړئ، بيا نو زما له لاسه هيڅ نه کيږي، سيوا له دې نه چې پرچه درباندې کټ کړم. او دا دوه لوټونه بيا تاسې په تانه کې نه شي خلاصولی.

ــد خدای خاطر وکړه اولدار صاحب، موږڅه ګناه کړې ده، چې هغه غر او دغه غر را ته ولې، سمه خبره وکړه.

ــپه سمه خبره تاسې پوهيږئ؟

-سمه خبره نو څنګه وي، که دې لوټونو ته مو سترګې نيولي وي، نو دا درواخلئ او موږ پريږدئ چې په خپله مخه لاړ شوو.

ــپټيبنده، سړی خو لارې ته راغی. څنګه دې خوښه ده، که تانې ته يې حواله کوو، نو د خدای مسکينان دي، ډير به په عذاب شي.

يره اولدار صاحب، زه خووايم چې دا لوټونه به ترينه په دې خاطر واخلو چې بيا په دې مبارکه شپه ډمتوب ته زړه ښه نه کړي.

پيښور، لالي باغ

2000/ 05/ 11

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# ضـــــرورت

شپه په پخیدو وه، تازه،تازه مې سترګې سره ورغلې ولې، خو د دروازې د بې دریغه ټکاري سره بیدار شوم. سودا مې شوه، دروازې ته ورغلم او د وره تر شا مې وپوښته:

-څوك يې؟

-يار، زه یم سرمست؛ ته لږ بهر راووځه! څه ضروري کار درسره لرم.

دروازه مې خلاصه کړه، ستړي مشي مې ورسره وکړه او په داسې حال کې چې په سترګو مې ګوتې موښلې او اوږده اوږده اسویلي مې ایستل؛ ورته ومې ویل:

سرمست خان، خدای دې خیر کړي، څنګه دې په دې ناوخته پیښه راوکړه؟

-یار، حال د ویلو نه دی، خو څه مې کړي وی، ضرورت راپه مخه کړی یم، که نه په دې نیمه شپه مې له خوبه نه راپاڅولې.

-بیا هم خبره څه ده؟

-خبره خودا ده، چې کور ودانه مې د اولاد بیماره ده، دومره پیسې راسره وې چې هسپتال ته مې پرې ورسوله، ډاکټر وایي چې کیس سنګین دی او اپریشن ته ضرورت دی، که ته یو دوه زره روپۍ راکړې، نو وبه مې ګټې.

-دا څه وایې؟ خدای دې خیر پیښ کړي.

-خیر به شي، خو ته دومره مهرباني وکړه، ما ته پیسې راکړه، چې ځان هسپتال ته ورسوم.

-بخښنه غواړم سرمست خان، ما سره خو دومره پیسې نه شته، دا سل یو نیم سل روپۍ راسره دي که په دې ستا چاره کیږي، نو واخله له تا قربان دي.

-یار په سل یو نیم سل مې کار نه شي، څه چاره وکړه، په ډیره مینه مې ځان ته واده کړی، خدای مه کړه که خبره هاخوا دې خوا شي، نو تباه او برباد به شم.

-سرمست خان، زه به څه چاره وکړم، په دې توره شپه تا ته له کوم ځایه پیسې راوړم.

-یار، کوروداني نه دې راواخله.

-زما له کوروداني سره دومره پیسې نه شته.

-کشر ورور نه دې وغواړه.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



-سرمست خان، ته یقین وکړه چې ما کله د خپل ضرورت په خاطر هم د ورور نه پیسې نه دي غوښتي.

سرمست خان لاندینۍ شونډه په غاښونو کې ونیوله، سر یې وخنډه، د لاسونو حلقه یې تر سټ تیره کړه او څو شیبې یې د اسمان په لور سترګې پاتې شوې. سټ یې وګراوه او ناڅاپه یې زما د بغل جیب ته لاس تیر کړ. خدای کول چې زما په بغل جیب کې څه نه وو. خدای به مې پرده کوله چې واسکټ مې په تن نه و، که نه په تالا شۍ به یې رانه پیسې ایستلې وې، ورته مې وویل:

-سرمست خان، ستا یقین نه راځي، ولټوه، دا ته او دا زما جیبونه.

سرمست چې په دې پوه شو چې له ما څخه یې څه بوده نه کیږي، نو په تلو تلو کې یې وویل:

"یار زه څومره په امید راغلم، په ټوله محله کې مې په چا زړه ښه نه شو اوتا ته راغلم. ځه، خدای دې خیر کړي، غر په غر نه ورځي، خو انسان په انسان ورځي. دا دعا کوه چې کله دې څه ته ضرورت پیدا نه شي او چا ته ونه دریږې.

ما به نور څه ویلي وو، سرمست په خپله مخه لاړ، زه ترې کور ته ننوتم، په کټ کې وغځېدم،یو لړ اندیښنو په مخه کړم،ډېره په ډېره اوښتم، خو خدای منې که مې سترګې سره ورتلې. یو دوست مې سترګو ته نیغ ودریده، چې تیر کال یې میرمن د اولاد د زیږون له وجې خپل ژوند له لاسه ورکړی و. په سرمست مې سخته خوا بده شوه، څو ځلې به مې زړه وکړ چې روغتون ته ورپسې پیسې ورورم، خو دې خبرې به پښیمانه کړم، چې د پیښور په دې بې سره بې سامانه روغتون کې به ورپسې چیرته ګرځې. خدای مې دې غاړه نه نیسي چې څلورم پار به و، چې سترګې مې سره ورغلې وې. سهار د چای څښلو وروسته د ډیرې خرییلو لپاره د نایي دوکان ته لاړم، په دوکان کې ګڼه ګوڼه وه، خپل وار ته کیناستم، ځان مې د ورځپاڼې په لوستلو بوخت کړ، لږه شیبه تیره نه وه چې سرمست خان د نایي په دوکان راننوتو. سترګې یې سرې وې او سترغلي یې پړسیدلي وو. له واره مې پرې غږ وکړ:

سرمست خان! بیمار څنګه دی؟

سرمست په بریتو کې موسکی غوندې شو، خوله یې زما غوږ ته رانږدې کړه او ویې ویل: "یار، تا نه څه پرده،څلور، پنځه زره راسره نغدې وې، هغه خو په ان پن کې لاړې، په لسو زرو کې مې د کورودانې کالي (سره زر) ګانه کړل، هغه هم لاړې، د حریفانو نه هم قرضدار شوم او دا د لسو نوټ ګورې، دا مې هم له یوه نه په دستخوشۍ کې واخیستو. بیمار میمار نه و، هسې یو ګپ و. یار، دا اسره هم ډیر بد شی دی، کله ناکله خوجواري هم د بنده ضرورت شي.

2002/ 04/ 11

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## هر چاته خپل وطن کشمیر دی

د هجرت په اوم کال چې پیښور ته په کډه شوم، نو د نورو خپلوانو په څیر مې دکمپ پر ژوند د ښار ژوند غوره وګاڼه. میاشت نیمه مې د ماما په کور کې له خپلو بچو سره اړولي وو. خو د پیښور په تنګو کورونو کې د دوه کورونوګډه ګذاره ډېره ګرانه وه، مجبور شوم او د ماما سره په ګاونډ کې مې د دوه کوټو کور په کرایه ونیوه. په کومه محله کې چې زه اوسیدم، له هغې محلې نه یو کس چې ابرارخان نومیده، ځان یې د محلې د نماینده په توګه کاندید کړی و، زما د کور نه لږ ورها خوا یعنې په دوهمه کوڅه کې اوسیده او تر هغې چې انتخابات را رسیدل، نو په دیره کې یې ښه ګڼه ګوڼه وه په لږه موده کې زما هم د محلې په بازار ګوټې کې له ځینو ځوانانو سره سلام کلام پیدا شوی و. ځینو خو به راباندې د سلام اچولو وروسته دا غږ هم کاوه چې " راځه کینه، دمه شه، زوروره چیرته ځې " دهمدې غږونو وروسته مې د محلې له ځوانانو سره ناسته پاسته پیدا شوه. یو مازیګرله همدې یارانو سره یو ځای د ابرار خان حجرې ته ورغلم، د انتخاباتو موده را نږدې شوې وه او ا برار خا ن د محلې سپین ږیري او ځوانان د چایو لپاره دعوت کړي وو. په حجره کې مې له ناستو کسانو سره په غبرګو لاسونو ستړي مه شي وکړه. یو نیم به راوکتل او سم له واره به یې وویل چې (( میلمه ستړی مه شې، په خیر راغلی )) یوه مشروټ غوندې سړي په یوه ځوان غږ وکړ (( میلمه ته چاې واچوئ )) یو ځوان د بسکټو د قاب سره د شیدو پیاله راته مخې ته کېښوده. یو ګوټ نیم به مې کړې و چې ابرارخان له کټ نه را ولاړ شو او په لوړ غږ یې په خبرو پیل وکړ: "زما مشرانو، کشرانو السلام علیکم، د هر څه له مخه درته یو ځل بیا په خیر راغلی وایم. ورونو تاسو پوهیږئ، چې زموږ محله یو چیرمین ته ضرورت لري او دې یو سیټ ته پوره لس کسه ولاړ دي. تر مخه چې کوم چیرمین و، تاسو ولیدو چې د کرپشن په کیس کې دننه شوی دی. تاسو ما هم ښه پیژنئ او زما حریفان هم. که څه هم زما په مقابله کې ډېرې غټې سامۍ ولاړې دي، خو زما زړه پر تاسو ډاډه دی. زه یقین لرم چې تاسو به ما حتمًا کامیابوئ او دا کامیابي به زما نه وي، بلکې ستاسو به وي. کله چې ستاسو په مرسته دا میدان ما وګاټه، نو زما لپاره به بنیادي چلنج د ټولې محلې په سطحه د کوڅو فرش بندي وي. همدارنګه به د محلې نه لوډ شوټنګ ختموم او محلې ته به د کینټومنټ بوردېنه څلور کسه روزانه د کوڅو د سپایۍ لپاره لګوم

ابرارخان ته یو زلمي د اوبو ګیلاس وړاندې کړ، ابرارخان د اوبو نه یو غړپ وکړ. په دې وخت کې یو کس ودرید او ویې ویل :

(( ابرارخان! که په خپلو بنیادي چلنجونو کې دې دا هم زیات کړې چې دا بازار ګوټې د مهاجرو نه سپاه شي، تاسو ته مالومه ده چې هر دویم دوکان دلته د مهاجر دی، موږ ته یوازې د پیو خرخول او دروټو پخول پاتې دي، هر خوا چې مخ اړوې، په مهاجر دې سترګې لګیږي، که په دې مسئله هم اظهار خیال وکړئ بده به نه وي.)) ناستوکسانو د ولاړ شوي کس خبره تائید کړه او ګډ اوازونه پورته شول چې بالکل دا هم یوه بنیادي مسئله ده

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ابرار خان چې ښه په دم کې شوی و، وویل :

دا هر څه به وشي. دې خبرې ته زما پام شته، تاسې خو ددې وړوکي بازار خبره کوئ، خو ما ته د ښارونو لوی بازارونه هم مالوم دي، چې د مهاجرو پرې قبضه ده. تاسې ورشئ په اسلام آباد کې وګورئ چې په غټو شاپنګ سنټرونو د دوی قبضه ده. په ټريول ايجنسيو کې دوی شريك دي، ټکسي ګاډي دوی چلوي، په سرکونو دوی لاس ګاډي اودريدلي دي او دلته په پيښور کې هم همدا صورت حال دی. دملك په نوروځايونو کې خو مې له وسه پوره نه ده، خو د خپلې محلې نه به يې حتمي ورکوم او يا به پرې د کورونو او دوکانونو کرايه ګانې جګوم .

په دې خبره ناستو کسانو د (( بري )) آوازونه وکړل او ابرارخان يې په چکچکو ونمانځه. ماته يې زياتي خوند رانه کړ او غلی له حجرې څخه را ووتم، خدای خبر چې نور به يې د مهاجرو په باره کې څه، څه ويلي وي. درې څلور ورځې مې د ابرار خبرو چرت سخت خراب کړی و. که په لاره کې به مې په مخه راغی، نو ځان به مې ترې په څنګ واهه. خو په محله کې يې خلکو ډيرعزت کاوه، ځينو مهاجرو دوکاندارانو به هم ورته د خپل شرافت صدقه وخت نا وخت د پيپسي بوتل خلاصاوه .

يوه هفته انتخاباتو ته پاتې وه او ددې هفتې په دوران کې به روزانه ابرارخان ته کله يو او کله بل د چايو مازيګرى نيولی و او په هره غونډه کې به ابرار خان د محلې د خلکو د خوشحالولو په خاطر په مهاجرو پسې لګيدلی و. بلاخره هاغه ورځ هم راغله چې انتخابات وشول او ابرارخان په کې د محلې نماينده انتخاب شو. پوره دوه هفتې د مبارکيو سلسله روانه وه، چا به ورته په غاړه د لوټونو اميل اچاوه او چا به ورته د خوږو قوطۍ روانې کړې وې. په شپو شپو يې حجره د سرمستو ځوانانو څخه نه اوزګاريده .

په دريمه هفته ابرارخان د نماينده په حيث په محله کې دفتر خلاص کړ او د محلې عمده مسلې به ورته راتلې او هغه به رفع دفع کولې. ځينې مسئلې به داسې هم وې چې تاڼه او کچرۍ (ماموريت او محکمې )، ته به هم په کې لاړ. او چې هلته به يې زر روپۍ ولګولې، نو د خلکو نه به يې پوره لس زره روپۍ اخيستې، چا ته چې به يې لانجه پاکه کړې وه، هغه به مجبور و چې ور يې کړي. د مهاجرو سره يې هم اړيکې پيدا شوې وې. چاته به يې په تاڼو کې زمانتونه کول او د چا په جرګو کې به يې ګډون کاوه اوپه زرګونو روپۍ به يې لاس ته راوړې .

داسې وخت هم راغی چې ابرارخان ډيرو مهاجرو ته شناختي کارډونه هم جوړ کړل او له هر چا به يې تر لس زرو کمې نه اخستې، په لږه موده کې ابرارخان لکونه روپۍ پيدا کړې. په محله کې يې د پيښوريانو په اصطلاح شل مرلې ځمکه چې ماشومانو به په کې لوبې کولې، واخيسته او له واره سره يې په کې د اته کواټرو نقشه پلې کړه. په درې څلور مياشتو کې يې کورونه جوړ کړل او مهاجرو په کرايه ونيول. دا نو داسې وخت دی چې د ابرار خان په رويه کې ډير زيات بدلون راغلی و. مثلاً د مهاجرو پسې به يې هيڅ بده خبره نه کوله. يوه ورځ ورته يو مهاجر دوکاندار چې د پيپسي له برکته يې ورسره ګپ شپ پيدا شوی و وويل :

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ابرار خان خدای شته چې راباندې ګران یې، خو سخته ګیله مې در څخه پیدا شوې ده او هغه دا چې د انتخاباتو په شپو ورځو کې دې ډېر سخت بدرد د مهاجرو پسې ویل .

ابرارخان ځواب ورکړ :

څه مې کړی وی، د عوامو غوښتنه وه او ته پوهیږې هاغه وخت همدا عوام زما طاقت و. دا سیاست دی او سیاست د سیکې په څېر دوه مخه نه، بلا مخونه لري او هر مخ یې بیل،بیل رنګونه لري. دا شپږ اوه میاشتې کیږي چې زه چیرمین شوی یم، ته ووایه چې د کوم یو مهاجر سره مې بده وضع کړې ده؟ که یوه نیمه د خولې ټوکه مې له تا سره او یا له هاغه بل مهاجر سره کړې وي، هغه بیله خبره ده. که نه چاته مې تاوان رسولی دی؟ دا اوس ته امر وکړه چې څه خدمت دې وي، انشاء الله اجرا کیږي به. په همدې محله کې مې ستا په مخامخ څومره مهاجرو ته شناختي کارډونه واخیستل .

ددې هر څه سره سره هم زما ابرار خان ښه نه ایسیده، خو ټولنیزه مجبوري وه سلام دعا مې ورسره پیدا شوې وه. ابرار خان هم په دې پوهیده چې زما ښه نه راځي او کله نا کله به یې زما د زوریدو په خاطر راباندې د مهاجر غږ هم وکړ .

زه تر یونیم کال پورې په دې محله کې اوسیدم نور مې په کې زړه تنګ شوی و او د پیښور ښار په یوې بلې علاقې کې مې کور په کرایه ونیوه او کلونه کلونه د هاغې محلې په طرف نه وراغلم. ابرار خان مې هم له یاده وتلی و په خپل روزګار مصروف ووم او بلاخره داسې شپې ورځې راغلې چې مهاجرین وطن ته په ستنیدو شوو. په دې شپو ورځو کې زه هماغې پخوانۍ محلې ته چې څه وخت په کې ابرار خان چیرمین و د څه کار لپاره تللی ووم، هلته مې ابرارخان ولیده چې د خپلو کواټرو مخې ته یې کټ اچولی و، ما پرې سلام واچاوه، هغې راته د ناستې نه وویل او که ما ورته هر څومره د ضروري کار دلرلو ویل، نه یې منله. په کټ کې یې کینولم او په خبرو یې پیل وکړ .

))هلکه دا مهاجر ولې دومره اور اوبو اخیستي دي، دوی په هغه وران وطن کې څه کوي. دلته څومره سهولتونه دي، بجلي، ګیس او د اوبو بمبې په هر کور کې لګیدلي دي. او تقریباً اوس خو ټول کورونه فلش سیستم دي. دوی به په هغه ورانو کورونو کې څه کوي. او دټولو نه اهمه خبره خو دا ده چې دا د سرحد علاقه خو د افغانانو ده. زما نیکه هم له افغانستان څخه راغلی و. موږ خو وایو چې دا سرحد به له مینځه وړئ او په اټك کې به سرحد جوړوئ خوتاسې د یوې مخې په منډه یاستئ، اخر دلته څه خبره ده. د ټولو مهاجرو کارونه جوړ دي او اوس خو چې کوم سهولت یوه پاکستاني ته حاصل دی، یو مهاجر ته هم حاصل دی. بیا نو څه له هغې ورانو کورونو ته روان یاست؟ ما چې د ابرارخان په کواټرو ځغلند نظر تیر کړ، نو اوه کواټرو ته یې قلفونه اچولي وو او دهرې دروازې په سر یې لیکلي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



وو: " کرايه کيلی خالي هی " په همدې وخت کې ابرار خان ماته مړه مړه وکتل او زما له خولې نه بې اختياره ووتل چې ابرارخان! هر چاته خپل وطن کشمير دی .

17-12-2002

سرای زرداد منډه يي کابل

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## نامريي ځواك د "باز"

زموږ په فولکلوريک ادب کې باز تل د لوړ بخت نښه ګڼل شوی دی. که د چا په اوږه به باز کېناست، نو هغه به په فولکلوريکو کيسو کې ضرور واکمن يا پاچا کېده. نو دا دی د ډېرو مودو وروسته د پښتو کيسې پر ځمکه يوه باز ناسته کړې ده. خدای دې زموږ د افسانو دا خبره رښتيا کړي، چې پر اوږه د باز پر ناستې سرې پاچايي ته رسېږي. زه باور لرم چې د پښتو کيسې پر ځمکه د باز پر دې ناستې به د پښتو داستاني ادب مخ پر وړاندې لاړ شي، پرمختګ به وکړي او که خدای کول د پاچايي تر پوړيو به ورسېږي.

دغه پښتون بازچې زه يې دا لومړنۍ کيسه ييزه ناسته په ښه شګون نيسم، پښتون غزل بول شاعر او کيسه ليکوال ورور بازمحمد عابد دی.

زه چې څومره عابد ورور پېژنم، په اول ګام کې يو درونډ اوروڼ اندی پښتون دی، دوهم ګام کې يو شاعر او ليکوال دی او په دريم ګام کې په ټوله مانا يو رښتنی انسان دی.

که د عابد ورور دغه لومړنۍ کيسه ييزه ټولګه په غور سره ولولو او بيا يې د شخصيت ارزونه وکړو، نو پورتنۍ ځانګړتياوې به تر هر څه لومړی را مخې ته شي. عابد ورور د دغې وړې داستاني ټولګې د هرې کرښې د ليکلو پر مهال يو درونډ پښتون دی او د پښتانه سپېڅلتيا او درونډ واله يې تر وروستۍ کچې ساتلې ده.

زما په اند عابد ورور ډېر لوستی دی، ځکه خو د ډېر لوستي په شان پېښې غوره کوي او مناسب کرکترونه ورته ټاکي او لوستونکی په ماهرانه ډول قاضي کوي. که څه هم کيسه ليکوال هغه قاضي دی چې له لوستونکيو څخه يو تورن کړي او د دار تر کړۍ يې راکاږي، خو عابد ډېر وخت قضاوت لوستونکي ته پرېږدي. څوک پر ناحقه د دار تر کړۍ نه کشکاږي .

عابد ورور يو داسې هنرمند دی چې ښکلا زيږوي، ښکلا ستايي او ښکلا په ګوته کوي. د يوه شاعر او د يوه ليکوال په شان د حساس او دردېدلي زړه خاوند دی. ډېرو وړو پېښو ورته هم د احساس تارونه خوځولي او دی يې جګړې ته هڅولی دی. او په پای کې يو بې پرې انسان دی چې هر څه يې په يوې بې پرې تله کې تللي دي. له پېښو سره يې انساني چلند کړی دی او يوه رښتني پايله يې ترې اخيستې ده.

اجازه راکړئ چې د عابد ورور په کيسو درسره وغږېږم:

په دغو کيسو کې چې کومې ځانګړنې تر هر څه له مخه زما پام ځان ته راواړوه، هغه د راتلونکيو ټولنيزو ستونزو انګيرنه ده. دا هغه ستونزې دي چې لا پرې زموږ خلک نه دي اخته او يا خو زموږ خلک ورته لا تر اوسه اوزګار نه دي. لکه د ((Yahoo. Com)) کيسه.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



دا کیسه په ډېر ښکلي ډول پیلېږي خو چې څومره کیسه د اوج پر لور ځي، هومره یې هندي فلمي بڼه راجوتېږي. که څه هم د کیسې ډېره برخه ډیالوګ نیولې، خو دا ډیالوګونه ډېر خواږه او کله کله ډېر ژور هم دي. دا چې له شهسوار سره نرګس یا پرښته څرنګه یو ناڅاپه په انټر نیټ کې مخ شوه، زما موخه د شهسوار مېرمن ده، چې دا یو بشپړ تصادفي حالت دی. کیسه تر وروستۍ شېبې خپله فلمي بڼه ساتي، خو په وروستۍ کرښه کې لیکوال هغه غوټه پرانیزي، کومه چې یې تر اوسه پټه ساتلې وه. د انټرنیټ د زمانې یوه ستره کورنۍ ستونزه په یوه عاطفي او رومانتیکي شېبې کې وړاندې کوي، چې زه یې د خلاقیت معراج بولم.

دا سمه ده چې زموږ ډېرو خلکو لا د انټرنیټ نوم هم نه دی اورېدلی، خو همدا انټرنیټ هلته تلونکی دی. همدا انټرنیټ به ډېرې ستونزې له ځانه سره که نن نه وي، نو سبا ضرور لېږدوي.

یوه له همداسې کیسو څخه (( قیمتي وینه)) ده. ما دا کیسه او پر دې کیسه د بهیر د غونډې بشپړ راپور او د کاروان صاحب لیکنه ډېر وړاندې د(( ګندهارا)) په مجله کې لوستې وه. زما چې څومره په یاد دي هغه دا دي چې پر دغې کیسې یوه کره کتونکي دا ګوزار کړی و، چې دا کیسه یوه داسې ستونزه په ګوته کوي چې لا زموږ د خلکو ستونزه نه ده. او دا یې د کیسې نیمګړتیا ښوولې وه. خو زه بیا وایم چې همدا د کیسې غوره ښېګڼه ده. د یوه پوه انسان صفت دا دی چې د ګاندې په اند کې هم اوسي. که څوک راڅخه خپه نه شي نو موږ تل د څارویو په شان د دم ګړۍ غم کوو او دا چې زموږ په ټولنه کې ټولنیزې ستونزې له نورو ډېرې دي، یو لامل یې هم همدا دی چې زموږ په لیکوالو کې د ستونزو انګېرنه په ښه ډول نه ده پالل شوې.

که وینه خرڅول نن زموږ په هېواد کې په پراخه کچه نه دي دود شوي، خو سبا ضرور دودېږي. دا اوس هم په کابل کې په نشه يي توکو اخته کسان خپله وینه پلوري او دا د دې ستونزې پېل دی.

عابد ورور په دغو لنډو کیسوکې هڅه کړې چې د یوې لنډې کیسې ټول آرونه له نظره ونه غورځوي. لکه ښه پېل، اوج، غوټه، خوږ ډیالوګ، ټکر، تلوسه او ښه پای او داسې نور ډېر لوازمات یې په نظر کې نیولي دي. زما په اند کله کله پر آرونو ډېر ټینګار د کیسې هنري او ادبي بڼه زیانمنوي. ځکه چې د لیکوال ټول اند او فکر آرونو ته اوړي او چې هنري لیکنه د آرونو په بند کې ګېره شي، هغه غوره هنري پنځونه نه شي کېدای .

خو د عابد ورور کیسې سره له دې چې په لړو ډېرو آرونو پابندې دي، خو خپله هنري او ادبي بڼه یې داسې خوندي ساتلې ده، لکه لیکوال چې په ناغوښتې توګه د آرونو لار وهلې وي. یوه یادونه باید وکړم چې په کیسه کې ښه موضوع، ښه پېل، غوټه، اوج، ډراماتیکه بڼه ، خوږ ډیالوګ، تلوسه ، ښه پای او داسې نور د لنډې کیسې ځانګړنې او آرونه دي. او له یوې لنډې کیسې نه ښه کیسه جوړوي .

په لنډه کیسه کې د کیسې نوم هم د کیسې په ښکلاییزه برخه کې او هم یې په ځواکمنتیا کې پوره ونډه لري. کله کله داسې هم پېښېږي چې لیکوال په داسې ځای کې کیسه پای ته ورسوي چې سرلیک یې غوټه پرانیزي. او کله

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کله سرلیک غوټه اچوي. نو سرلیک یا نوم د یوې لنډې کیسې اهم توکی دی چې نه یوازې دې ته باید پام وشي، داسې سرلیک غوره شي چې د لنډې کیسې وخت کم او موضوع یې غټه ده، یوه برخه غوره کړي، بلکې د کیسې ښکلا هم ور زیاته کړي. نوم باید د ښکلیو او خوږو وییوو څخه جوړشي.

د عابد ورور د کیسو ځینو نومونو ماته خوند را نه کړ. زه نه پوهېږم اوکه نه رښتیا ښکلي نومونه نه دي؟ دا سمه ده چې د کیسې له کوچو څخه باید نوم یا سرلیک وټاکل شي، خو د سرلیک د کلیمو خوږوالی او ښکلا هم باید په نظر کې ونیول شي. دا ځکه چې د لوستونکي سترګې تر هر څه لومړی په سرلیک لګیږي او که سرلیک ښکلی نه وي، نو بیا د کیسې لوستو ته د لوستونکي تلوسه نه پیدا کېږي. زما د اورېدو تر حده هغه سرلیک ډېر کمزوری دی چې د کیسې د مرکزي کرکټر نوم وي، لکه د عابد ورور په کیسو کې (( میا صاحب )) او ((شېخ صا حب )). که څه هم د کیسې په لوستو کې د عابد ورور په موخه لوستونکی پوهېږي چې ولې یې دا سرلیکونه انتخاب کړي دي. خو سره له دې هم دا وړ سرلیکونه کمزوري ګڼل کېدای شي.خو د وړې داستاني طرحې (( ښاپېرۍ او دیو))، (( قیمتي وینه)) او د (( نامریي ځواک )) په شان له سرلیکونو نه بنده پوهېږي که عابد ورور په ځینو نورو نومونو هم لږ زیار ایستلی وای ښایي ډېر ښکلي سرلیکونه به یې ټاکلي وو .

که د عابد د کیسه لیکنې ژبې ته راشو، د لیکوال ژبه ډېره خوږه بې تکلفه او روانه ده. خو یوه خبره د یادولو وړ ګڼم چې د لیکوال پر ژبې پېښوری انګریزي ډوله پښتو لږ لږ اغېزکړی دی. خو د ګتې، ضرورت، د قربانۍ چمړې او شیخ صاحب په کیسو کې د کرکټرونو ژبه بیخي بشپړه پېښوری انګریزي پښتو ده. دا چې د راوي ژبه دومره د پېښورۍ انګریزي پښتو تر اغېز لاندې نه ده راغلې دا تر ټولو غوره خبره ده، دا ځکه که د کرکټر ژبه د یوې سیمې په ځانګړې ګړدودپورې اړه ولري او لیکوال له مکان څخه یادونه نه وي کړي، د کرکټر ژبه لوستونکي ته د پېښې د پېښېدو سیمه ور په ګوته کوي، لکه د ګټې، ضرورت او مبارکه شپه -کیسې. د دغو کیسو د کرکټرونو له ژبې څخه انسان کولای شي د مکان او زمان انګېرنه هم وکړي. (( مبارکه شپه)) کیسه کې د ډیالوګ له مخې سړی پوهېږي چې دا پېښور دی او دا د مهاجرت کلونه دي. او که د عابد ورور دغې ټولګې ته ښه ځیر شو، نو ټولې پېښې داسې ښکاري چې باید په پېښور کې پېښې شوي وي. کله کله سړی په دوه لارو کې پاتېږي، چې اوس نو دا پېښور شو که افغانستان، لکه د شیخ صاحب لنډه کیسه، نو د دې لپاره چې لوستونکي په دوو لارو کې بند پاتې نه شي، ښه دا ده چې عابد ورور کله کله په کیسو کې له مکان او زمان څخه هم لږ تر لږه په پرده کې هم یادونه وکړي او دا باید هېر نه کړي چې دا هم د لنډې کیسې له آرونو څخه یو آر دی. خو یو څه چې زما لپاره د یادولو وړ ښکاري، ښایي د دې لپاره به هم ما ته د یادولو وړ ښکاري چې زه په خپله هم یوه انجلۍ یم، هغه دا دي چې عابد ورور په دا ټوله ټولګه کې له ښځو څخه یو دوه ځایه په فرعي ډول یادونه کړې ده، زه نه پوهېږم چې د عابد ورور ښځې هېرې شوي دي او یا که د دوی په اند ښځه فرعي کرکټر دی. که څه هم د عابد ورور له کیسو څخه داسې ښکاري چې عابد ښځې په نشت ګڼلې دي. ښایي زما دا انګېرنه به غلطه وي دا ځکه عابد ورور په ټولنیز ژوند کې ښځو ته زښت ډېر درناوی

Download from: ketabton.com

کوي، خو له دې نه هم سترګې نه شو پټولای چې د عابد ورور یوه کیسه هم د ښځو له ژوند څخه نه غږېږي. څومره چې ما ته څرګنده ده، د عابد په سیمه کې د ښځو په ژوند کې ستونزې او نابرابرۍ دومره ډېرې دي چې راټولونه او انځورونه یې د یوه یا دوه لیکوالو له توانه وتلی کار دی؛ خو زما چې خپلو لیکوالو ته پام اوښتی زموږ په لیکوالو کې دا یوه عجیبه ستونزه ګرځېدلې ده. زه دلته د پښتو کیسه لیکنې دوه ډېر پیاوړي او سرلاري لیکوال رایادوم، صفیه حلیم او اسد الله غضنفر. د صفیې ټولې کیسې د ښځو په ژوند ګرځي راګرځي. ځینې دا استدلال کوي چې نارینه د ښځو په پرتله د نارینه وو په هکله ښه پوهېږي او ښځې د ښځو په هکله، خو په انساني ټولنه کې ښځه او نارینه ګډ ژوند لري، د یو بل د ژوند ملګري دي. د یو بل مور او پلار، لور او زوی، خور او ورور، تره او ترور دي. د یوه بل مرستندویان او همکاران دي، دوی داسې سره پېیل شوي دي چې بېلول او دا خبره منل چې نارینه د نارینه او ښځه د ښځې په هکله ښه پوهېږي، ناشوني کوي. که یوه ښځه د نارینه په هکله او یوه نارینه د ښځې په هکله سل سلنه و نه پوهېږي خو اتیا سلنه هېڅ شوني نه ده چې و نه پوهېږي، دا ځکه دوی د یوې ټولنې د وجود دوه اهم او نه بېلېدونکي توکي دي.

یولیکوال ورور یوه ورځ ما ته په دې هکله داسې وویل چې دارنګه درېځ د یوې عقدې له مخې نیول کېږي خو زه دا خبره په کلکه ردوم او ناسمه یې بولم، دا ځکه زموږ ټولنه له هغه غربي ابتذال څخه لا ډېره لرې ده، چې دارنګه عقدې رامنځ ته کړي او که زه ښاغلی غضنفر صاحب او صفیه حلیم له نژدې ښه نه پېژنم، خو عابد ورور ډېر ښه پېژنم چې له دغه ناسم حکم څخه مبراء دی او زه هیله منه یم چې عابد ورور لږ تر لږه په کیسه کې د ښځې شتون هم هېر نه کړي او په دې هیله چې د عابد ورور تل داسې ستري او ښکلې هنري پنځونې وکړي او زموږ د کیسې مځکه راته زرغونه وساتي او زموږ د لوستونکي تنده ور ماته کړي د عابد د دغې ټولګې ستاینه د اجمل اند په یوه بیت کې راټولوم.

هغه دی بیا شوې وریځې پورته له بزرګې څوکې

د کلي خلکو خو دا ډېر وخت یادولو باران

عابد ورور ته د دغې په زړه پورې او ښکلې کیسه ییزې ټولګې مبارکې وایم.

په درنښت

عارفه عمر لور

پېښور ارباب روډ

۲۰۰۲/ ۲٤/۰۷

Download from: ketabton.com

# او په کړس کړس مو وخندل

يره دا زلميتوب هم يوه ليونۍ دوره وي. که رښتيا درته ووايم د فلم له ليدو سره مې د جنون تر حده مينه وه. په اونۍ کې به دوه درې ځلې هرو مرو له ښوونځي نه پټېدم او ځان به مې نيغ سينماته رساوه، مګر دومره په ويره لکه څوک چې په يوه لوی جرم پسې روان وي .

يوه ورځ له يوه ملګري سره يو ځای له ښوونځي څخه وتښتېدم او نيغه مو د سينما لاره ونيوله. په هغه سرك چې سينما ته غځېدلی و، په ويره ويره بيل بيل لاړو. کوښښ مو کولو چې حتی څوك خپلوان دې هم موږو نه ويني. د سينما ودانۍ ته چې ورسيدو، تقريباً فلم پيل کيدو ته لا يو ساعت پاتې و چې ملګري راته وويل:

"خوښه دې نه ده چې د سينما تر شا له پيتاوي څخه مزه واخلو، ښه د مزار ګرده مې پيدا کړې ده، يو سګرټ به ترې وڅکو او په ضمن کې به د زړو ګناهګارانو سيل هم وکړو. د ملګري خبره مې خوښه شوه، د سينما شاته کښيناستو، ملګري مې په سګرټ تشولو پيل وکړ او ما د چرسو په چره کولو. له نيږدې بدلمنې کوڅې نه عبدل ماما (زموږ ليرې خپلوان و) راښکاره شو او چې ځنګه يې پر موږ سترګې ولګيدې، نو له ټکه يې پوښتنه وکړه:

ـاوهو، ای لوچکه ! دلته څه کوې؟

زه چې د چرسو په ميده کولو بوخت اوم، په دې خاطر چې په چرسو مې پرده اچولې وي، لاس مې موټۍ کړ او ورته مې وويل:

ـسينما ته راغلی يم.

ـغلی شه! سينما ته راغلی يم، دا زيږې سترګې دې ورکې شه، ستاسې د مکتبيانو په سترګو کې والله کې ټکی حيا وي. د کمبخت بچيه، ته خو دې هغه پلار ته وګوره، والله چې په لمنه يې مونځ کيږي او تا بد بخته ته وګوره چې په څومره سپين سترګۍ سره وايې چې سينما ته راغلی يم. ته وار وکړه چې يو ځل زما پښې خدای کلي ته ورسوي، بيا دې د ځان سيل کوه، د ظالم بچيه له کور نه د مکتب په نوم راځې او بيا په سينماګانو ګرځې.

ـعبدل ماما نن يې زموږ د مکتب ټول شاګردان د زيتونو فابريکې ته راوستي او داوطلبانه کارونه پرې کوي، ځکه مو ترې ځانونه پټ کړل او سينما ته راغلو او موږ خو څه روزانه نه راځو چې ته راته اوس په کور کې جنجال جوړوې، چيرته په مياشت نيمه کې يو ځل سر راښکاره کړو.

-مه چريږه د اوقي بچيه، ته لا دليلونه وايې بس درته مې وويل چې يو ځل زما پښې خدای کلي ته ورسوي، ته دې بيا د ځان سيال کوه، چې زه دې يو وارې پلارځنځير ته ووايم.

ماما خوله سمه خوځوه، د کنځلو دې څه حق دی.

Download from: ketabton.com

ــبس درته مې وويل، نور به له تا سره څه سر خوږوم، خوبیګا ته دې د ځان سیال کوه.

دعبدل ماما لا غوسه نه وه سړه شوې چې زموږ له خوا نه یې حرکت وکړاو په روانه روانه کې یې پوچه خوله خوځوله، چې زما په زړه هم د کور له ویرې د وهمونو لړې راخورې شوې، نو غږ مې پرې وکړ:

ــستا څه کار دی چې په دې بدنا مو کوڅو کې ګرځې؟

عبدل ماما یو څه ټکنی غوندې شو، مخ یې راواړوه او راته یې کړه:

ــزما به له چا سره څه کار وي، منډه یې ته به څم، ستاپې له ما پورې څه؟

ــمنډه یې ته چې سړی ځي، نو په باچاهي سرك ځي، ستا غوندې ګوډپیرونه ورپسې نه بدلوي. زه پوه شوم. سمه ده، ته زموږ په کور کې د سینما له تګ نه ووایه، پروا نه کوي، زه به هم د زیور مور ته ووایم چې ماما ټوله ورځ په مردارو کوڅو ګرځي.

عبدل ماما چې زما دا خبرې واورېدې، په تندي کې یې د ګونځو لارې وغځېدې، سترګې یې تنګې تنګې شوې، هیڅ یې ونه ویل او په خپله مخه روان شو.

ورځ مې د فلم د لیدو په خوند تیره کړې وه، له ماما سره سهارنی بحث مې له یاده وتی و، ماښام چې کور ته را ورسیدم، نو د کور په لویو دروازو کې له ماما سره مخامخ شوم چې ماشوم زوی ( زیور) یې په ترخ کې نیولی و، نو هر څه راته مخې ته ودریدل، په زړه مې د وهمونو لړه راخوره شوه، بې واکه مې د هندوانو د رام رام په څیرلاسونه غبرګ کړ او په زارو مې ورته وویل:

عبدل ماما ګوره چې پلار ته مې د سینما له تګ نه و نه وایې .

ماما راته د سترګو په کونجونو کې وکتل، یوه رندانه موسکا یې وکړه، ناڅاپه یې لاس راوغځوه او راته یې وویل:

ته راکړه دا د پیر صاحب قول چې ته به هم د زیور مور ته څه نه وایې.

او موږ دواړو په داسې حال کې چې د یو بل لاسونه مو ښه کښیمنډلي وو، په کړس کړس وخندل.

1998/ 03/ 06

پیښورلالي باغ

Download from: ketabton.com

# نامريي ځواک

خدايزده چې زرك له كومه ځايه زموږ كلي ته كډه راوړې وه، خو زموږ كلى يې د پلار نيكه وطن باله. په مرې ژوندي كې به تر هر چا د مخه نيغ نيغ كيده. د نورو ملګرو په پرتله يې له ماسره ډيره جوړه وه. شايد علت يې داو چې له ماسره يې كله هم جنګ نه و راغلى. كه نه داسې ورځ به نه وه چې په ده به چا سر نه و مات كړى. او له همدې امله يې په سر كې خندونه جوړ شوي وو. په سر يې ويښته كم او د پرهرونوخاپونه زيات معلوميدل. او له دې وجې به يې تل يوه خيرنه خولۍ په سروله

د بيسوادۍ پرې ختمه وه. خو زه په دې راز تر اوسه هم پوه نه شوم ، چې تر اتم ټولګي څنګه رارسيدلى و. له هغې ورځې راهيسې چې زموږ په ښوونځي كې پتلون اغوستل جبري شوي وو، نو له څو ورځو وهلو ټكولو وروسته چې ښوونځي ته په لومړۍ ورځ په پتلون كې راغى، همغه خيرنه خولۍ يې په سر او چپلكې يې په پښو كړې وې، چې د ښوونځي د هلكانو د ريشخند له وجې له ښوونځي نه په تيښته مجبور شوى و. كله چې د خلقيانو حكومت په درز خرپ كې راغى، نو د " هورا " په نارو به يې خپله مرۍ وچوله. او د همدې هورا له بركته يې د ښوونځي د مدير صاحب پام ځانته را اړولى و .

داسې وخت هم راغى چې څو كاله مې د زرك سره هيڅ ونه ليدى شول . زه هم د منځني ښوونځي نه ليسې ته تللى وم. يوه ورځ چې د ليسې په وره ننوتم، په سرو سرو جنډو مې سترګې ولګيدې. پوه شوم چې هرو مرو به څه خبره وي. د لوبو د ميدان په يوه څنډه كې څو تنه په ستيج جوړولو بوخت وو، د رسميت زنګ وهل شوى و، ټولګي ته ننوتم، د تدريس لپاره معلم نه و راغلى او هلكانو يو شور جوړ كړى و. اخر د تفريح زنګ ووهل شو. څلورم ساعت و چې د سازمان منشي ټولګي ته را ننوت او داسې يې وويل:

-نن د ښاري كميټې د لومړۍ ناحيې منشي صاحب ليسې ته تشريف راوړى، له هغو شاګردانو څخه چې تر اوسه يې د ګوند د غړيتوب افتخار نه دى تر لاسه كړى، جداً خواهش كيږي چې د منشي د راتګ په وياړ دګوند غړيتوب تر لاسه كړي او هم په منظم ډول د ستيج مخې ته راشي چې منشي صاحب خبرې كوي.

دټولې ليسې شاګردان په منظم ډول د ستيج مخې ته راغلل او د منشي صاحب د راتلو انتظار يې كاوه، چې په دې كې يو ځوان چې لوكس پتلون يې اغوستى و، نيك ټايي يې تړلې وه ، د لاسونو په پړقا كې ستيج ته راغى او دا رنګې خبرې يې پيل كړې:

-انقلابي ځوانانو! د شكر ځاى دى چې د ټولنې عام قوانين عيني دي. نن ډير خوشحاله يم چې ستاسې په منځ كې ځان وينم، د وياړ ځاى دى چې د زحمتكشانو انقلاب د پرمختګ په لورې روان دى، دا انقلاب دى او انقلاب ځوان

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



تعليم يافته پوړ ته اړتيا لري. تاسې ځوانان ياست چې انقلاب د برياليتوب تر وروستي بريده پورې رسولی شئ، د دښمن په دې خرافاتو ونه غولېږئ چې وايي " له موږ سره يو نا مريي ځواك مرسته كوي".

دمنشي صاحب خبرو لا دوام لاره چې ځيرې يې زما توجه جلب كړه، يو تت شان تصوير مې په ذهن كې وده كوله، په چورت كې لاړم ، په حافظه مې زور راوړ، يو دم مې هغه تت تصوير په ذهن كې روښانه شو او ناڅاپه مې له خولې ووتل چې دا خو زرك دی. زرك لا هم هغسې د انقلاب په افاديت خبرې كولې او له ماسره يې د نږدې ليدو تلوسه ورو په ورو ډېريده.

غونډه پای ته ورسيده، هر څوك په خپله مخه روان شو، په څه شواخون مې ځان د زرك خواته ورساوه. زرك چې زه وليدم، را تر غاړې ووت، تر روغبړ د مخه يې راڅخه وپوښتل چې د ګوند د غړيتوب افتخار مې تر لاسه كړی او كه نه؟ ما ورته د نفي سروښوراوه.

ده وويل: دا خو ډېره د خواشينۍ خبره ده، چې تر اوسه لا په تيارو كې اوسې. ځان ويښ كړه او له تيارو راووځه. كه په كلي كې دې له اشرارو سره ګذاره نه كيږي، نو د ښار په لومړۍ ناحيه كې به درته دولتي ودانۍ دروسپارم. زرك به لا نور هم څه ويل خو يو ساتونكی په منډه منډه راغی او ويې ويل:

"منشي صاحب! د امر صاحب مخابره راغلې ده ، له تاسې سره څه ضروري كار لري، مهرباني وكړئ جيپ ته تشريف راوړئ".

زرك په تلو تلو كې د خپلې شعبې ادرس راكړ او په كلكه يې را څخه وغوښتل چې يو ځل به خا مخا ورځم. بيا مې له زرك سره ليده كاته ونه شول. سره له دې چې څو واري يې پيغامونه هم راواستول، خو د قسمت خبره وه، زه هم پيښور ته په كډه لاړم .

پوره دولس كاله وروسته چې نظام بدل شوی و، هر چا كولای شول چې په آزادانه ډول خپل هيواد ته لاړشي. زه هم په ډېر شوق خپل هيواد ته روان شوم. څو ورځې په كليو، بانډو او ښارونو وګرځيدم. يوه ورځ د ښار په يوه برخه كې ولاړ وم چې د شا له خوا مې په اوږه لاس كيښودل شو. مخ مې وروګرځاوه، ګورم چې زرك دی، خو په پخوانۍ دبدبه كې نه. رنګ يې الوتی و، په شونډو يې پترې ولاړ وو. په بدو ورځو ښكاريدو، تر روغبړ وروسته يې د خپلې شعبې ادرس راكړ. ما ترې وپوښتل: چې اوس هم په شعبه كې كار كوې؟

زرك راته وويل: هو، زه د شعبې د امر سكرتر يم او په عين حال كې د پخلنځي د چارو مسوول.

بله ورځ له وعدې سره سم د زرك شعبې ته ورغلم. شعبې له سيمټي فرش پرته دوه چوكۍ او يو ميز درلودل. د ميز له پاسه تلفون ايښی و، تر روغبړ وروسته زرك پر چوكۍ د ناستې راته وويل. كيناستم، پر خبرو مو پيل وكړ، ما به ورته د ماشومتوب شوخه دوره يادوله او هغه به د مسكو د عيش او عشرت كيسې كولې. په خبرو خبروكې مې په

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



زړه کې راوګرځېدل چې راځه مفت تلیفون دی، له ترور کره دې یو زنګ ووهه. زه لا د تلیفون د نمرې په یادلو کې وم چې ناڅاپه تلیفون د میز له پاسه روان شو. موږ دواړه ورته یو ځای متوجه شوو، تلیفون د میز کوز سر ته ورسیده، اخر له میز نه په هوا شو او په هوا کې یې هم حرکت دوام درلود، چې زرك وویل:

وګوره کنه، پخوا به خلکو ویل چې له مجاهدینو سره یو نامریي ځواك مرسته کوي، خو ما به نه منله. ګوره کنه، دا لوبه هم راته له کرامت نه خالي نه ښکاري. د تلیفون حرکت لا هم هغسې په هوا کې دوام لاره، نږدې و چې پر کړکۍ واوړي، د زرك د صبرپیمانه لبریزه شوه، غږ یې پرې وکړ:

"هلکه څوك یاست چې د تلیفون مزی کش کاږئ" .

د چت له خوا یو دروند غږ راغی چې ویل یې " یه خلقي! مه ګړبیږه، زه یم، کباړ مې ټول کړی، مزی مې په کار دی چې د بوجۍ خوله پرې وتړم.

1999/03/25

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# شکست

نن مې له سهاره طبعه خړه وه، له څو کسانو سره مې خوله ووهله، نږدې وو چې له یوه سره مې لاس اچولی و، مګر خدای خیر کړ. اصلي سګرټ به ولګوي او بیا به وایي چې دا خو نقلي دی. یو خو دې خدای د دې کارخانه دارو انصاف روزي کړي، یو شی به لا راوتی نه وي چې بیا یې نقل جوړ کړی وي.

رښتیا زه د پېښور په یوه ګڼ بازار کې د سګرټ خرڅولو کراچي لرم چې پېښوریان یې ګاډی بولي. هسې خو په دې بازار کې د ناستې څه چې د ولاړې ځای هم نه پیدا کیږي، مګر زه هم دومره مفت نه یم ناست. د بازار د دوکاندارانو د اتحادیې مشر راته د زنځیر د ترلو او خلاصولو وظیفه په دې خاطر را سپارلې ده چې بازار ته موټر داخل نه شي. او د همدې زنځیر له برکته مې په منځ سرك د سګرټو کراچۍ درولې ده.

هسې خو په دې بازار کې هر وخت ګڼه ګوڼه وي. خو د پشکال په ماسپښین کې په کې کراره کراري وي. چیرته یو کس نیم په کې ها خوا دې خوا کیږي چې هغه هم دوکاندار وي، د خریدار په کې هیڅ درك نه لګي.

په همداسې یوه ماسپښیني کې د خپل کار په چوکۍ ناست وم چې په یوه ملنګ مې سترګې ولګیدې، برګه خولۍ یې په سر وه، د کمیس پر ځای یې بنین اغوستی و، په ترخ کې یې تبرزین نیولی و، رنګداره ټوټې یې په متو تړلې وې، کچکول یې په غاړه اچولی و، دوکان په دوکان ګرځېده او لاسونه به یې د هندوانو د نمستې په څیر غبرګول، چا به ورته په کچکول کې روپۍ نیمه اچوله او چا به بینوا رخصتاوه.

ما ته یې تاند زلمیتوب رایاد کړ، چې له مکتب څخه به پټ شوو او د سینما مخه به مو ونیوله. کله چې به د سینما په پرده د بت صحنه راغله او د فلم لوبغاړو به ورته د عقیدت په توګه لاسونه غبرګ کړل او د رام رام نارې به یې وهلې، نو د سینما په هال کې به د تو، تو غږونه بې واره اوریدل کیدل او هر چا به دا ښودله چې ما د بت پر مخ لاړې تو کړې او له ګناه څخه مې ځان بچ کړو .

کله چې له سوچ نه راوګرځیدم، نو ملنګ را نږدې شوی و. که څه هم زه په خیرات ورکولو کې دومره میړنی نه یم، خو نه پوهیږم چې ولې مې له ځانه سره پریکړه وکړه چې که ملنګ له ما څخه څه وغوښتل، نو غوټې پنځه روپۍ ورکوم ګوندې په دې عمل را څخه خدای راضي شي. درې څلور دوکانه فاصله چې پاتې شوه، نو د ملنګ زما په کراچي نظر ولګیده، سپك قدمونه یې راواخیستل، د غوږ له غاړې نه یې سګرټ راواخیست، څو یې چې ګوګرد پیدا کاوه، نو زه له خپل ځایه پورته شوم او د " جی رام جي کي جی" کلمات مې له خولې څخه ناخود آګاه ووتل. ملنګ سم له واره لاسونه غبرګ کړل او د " بسم الله، بسم الله" کلمات یې تکرار کړل.

ملنګ سګرټ ولګاوه او په خپله مخه روان شو، خو زه یې له یوې دردوونکې ماتې سره مخ کړم. څه مې له ځایه طبعه خړه وه او څه له دې پیښې سره خړه شوه. د ملنګ څیره مې مخې ته ولاړه وه چې له ورایه مې په یوه لوړ دنګ سړي

Download from: ketabton.com

سترګې ولګیدې چې په خولو کې لوند خیشت را روان دی، د جومات د پوزکي خولۍ یې په سر کړې ده. درانه درانه ګامونه را اخلي.

زه د ملنګ سره د پیښې شوې واقعې د کفارې د ادا کولو په خاطر له خپل ځایه ولاړ شوم، د سړي مخې ته ودریدم او په ډیره عاجزۍ مې ورته وویل:

کاکا که خدای مې نه غلطوي تاسې په هیره کې د جومات خولۍ په سر راوړې ده.

مخکې له دې څخه چې سړی ځواب راکړي، ایسته یې پوریې وهلم او بیا یې وویل:

"ها خوا شه ورك شه. اوس مې په پنځه روپۍ واخیشته".

زما پریشاني نوره هم زیاته شوه. تر تیر مازیګر پورې مې چرت ډیر خراب و. ماښام ته لږ وخت پاتې و چې یو شاعر ملګری مې څنګ ته راغلو، په ترخ کې یې په شین پوښ کې نغاړلی کتاب نیولی و، د عادت له مخې مې لاس ور تیر کړ، خو ملګري مې په کتاب ترخ ټینګ کړ او ویې ویل:

"پریږده زوروره، څه پرې کوې، مذهبي کتاب دی".

ماته یو ځل بیا ملنګ را په یاد شواو ملګري ته مې وویل:

راکړه مړه زه درته څه مذهبي سړی نه ښکارم .

کتاب مې ترې واخیست او چې څنګه مې په لیمو ښکل کړ، نو شاعر ملګري مې یوه مسته مانا خیزه خندا وکړه. ما په بیړه کتاب له پوښ څخه وایست چې غټ غټ یې پرې لیکلي وو "ګرنتهـ" مصنف "ګروهـ نانك" یو ځل بیاملنګ را په یاد شو، څو شیبې مې د لاشعور په ویړه پرده د ګندهارا تهذیب فلم وڅرخیده، په ایمان وویریدم او امنت بالله مې په ځان وویله .

2001/ 04/ 25

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

# قيمتي وينه

له ماشومتوبه مې په خپل مټ باور و. په ښوونځي کې به هم په تن بدن کمزوري ياران رانه په څنګ تېريدل. داسې ورځ به نه وه چې په چم ګاونډ کې به مې د چا تنې نه وه شلولې او ميندې به يې له موږ کره به شور نه راتلې او له همدې بې سرۍ له وجې به مې راته مور ستغې سپورې ويلې. څه په خوارو مې لسم پاس کړو، هغه ورځې مې هم وليدې، چې دفتر په دفتر د نوکرۍ لپاره وګرځېدم، خو زموږ د خوارانو په قسمت کې نوکري چېرته وه. ټول وخت مې په بې روزګارۍ کې تېر کړ، هسې به د محلې په کوڅو کې ښکته پورته کېدم، له دې وجې د لنډغرو په سر کې شمار وم. پردي ودونه به مو يوه هفته د مخه ګرمول، که رښتيا درته ووايم، ښې مفتې مزې مو چاڼولې، داسې شپه دې حرامه وي، چې موږ دې ترې موج نه وي اخيستی.

زما کمبختي به راغلې وه چې يوه ورځ زموږ د يارانو له جملې نه د يوه ماشومه لور په ګولۍ لګېدلې وه، ډېره وينه ترې تللې وه، په هسپتال کې وينې ته ضرورت شو، يارانو يو بل ته سره وکتل او بيا ټولو په ما ګوته کېښوده، ما چې کله د وينې د ورکولو تصور هم نه و کړی، له پښو نه مې دم ووتو، مړه خوله راباندې راماته شوه، خو له خپلې تنې نه وشرمېدم او وينې ورکولو ته مې ځان ونيو. ډاکټر چې کله زما د وينې ګروپ معلوموه، نو سخت وارخطا شوم، يوه لړزنده يخني راباندې راغله، ډاکټر مې زړه ډاډه کړ و يې ويل:

))يو نارمل انسان کولای شي چې په هرو درې مياشتو کې پنځه سوه سي سي وينه ورکړي او له تا نه خو زما په څېر دوه جوړېږي، ته ولې دومره وارخطا شوې. خو يوه خبره واوره چې ستا وينه ډېره قيمتي وينه ده، ستا وينه هر انسان ته ختې شي، خو د هر چا وينه بيا تا ته نه شي ختی، تر څو چې ستا د وينې ګروپ نه وي((.

ډاکټر چې څو خپلې خبرې خلاصولې، له مانه يې پنځه سوه سي سي وينه اخستې وه. هډو پوه پرې نه شوم او نه مې څه کمزورتيا محسوس کړه.

کله کله به مې د ډاکټر دې خبرې چې (( ستا وينه ډېره قيمتي ده)) په مغزو کې انګازې کولې. تل به په همدې چرتونو کې تللی وم، وخت نا وخت به مې له يارانو نه هم د وينې ورکولو په هکله تپوسونه کول او په دې پوه شوی وم چې په هسپتال کې روزانه د وينې ضرورتمندان وينه په بيه اخلي. بس د دريو مياشتو پوره کېدو ته مې په ورځو شمېرلو پيل وکړ، بالاخره پوره شوې او نېغ هسپتال ته لاړم او د وينې خرڅوونکو په لست کې مې نوم وليکه. يوه ښه شپېه وروسته راته د ډاکټر د کمرې نه اواز وشو، ورغلم او د وينې د بيوپار سره مې پنځه سوه سي سي وينه په زرو روپو خلاصه کړه. هفته دوه مې پرې ښې په مزو کې تېرې شوې او کله چې بيا د خرچې ضرورت شو، نو درې مياشتو پوره کېدو ته مې بيا په ورځو شمېرلو پيل وکړ، دا ځل دا درې مياشتې هېڅ نه پوره کېدې، د خدای په دې وېړه دنيا کې مې سخت زړه تنګ شوی و،هېڅ ټايم راباندې نه پاس کېده، خو اخر دا دوره هم پوره شوه. هم هغه هسپتال

Download from: ketabton.com

ته لاړم او په لست کی مې نوم ولیکه او کله چې راته د ټولو وینه خرخوونکو په وړاندې د ډاکتر له کمرې نه اواز وشو، نو د ړومبې ډاکتر خبرې مې په یاد کې راغلې چې ویل یې:

))ستا وینه ډېره قیمتي وینه ده(( .

په خپله وینه مې په زړه کې ناز وکړ او په فاتحانه انداز د ډاکتر کمرې ته ورغلم. زما د وینې پخوانی بیوپار ناست و، خبرې جوړېدو ته ضرورت پېښ نه شو، نېغ لاړم او په بېړه کې وغځېدم. د سترګو په رپ کې یې را نه پنځه سوه سي سي وینه واخیسته او شین لوټ مې په زړه واچاوه .

داخل مې په ځان لړه سخته تېره کړه، خو د ډېرې سختې باوجود مې خرچه تر میاشتې و نه رسوله. خو وروسته بیا هماغه تنده وه. درې میاشتو پوره کېدو ته مې وار ونه کړ، یو بل هسپتال ته لاړم او پنځه سوه سي سي وینه مې خرڅه کړه. څه مې کړی وای ، مجبوري وه. بد اموخته شوې وم، بله هېڅ چاره نه وه، بس سم کار مې ورته ویلی و، میاشت لا پوره نه وه چې نوره وینه مې خرڅه کړه او چې څلور پنځه میاشتې مې سر په سر وینه خرڅه کړه، نو ښه یې له لاده باده وایستم. دا داسې وخت و چې خپل کور ته مې بلکل شاه کړې وه. اکثره وخت به مې په هغه کوډله کې تېراوه، چې د ملنګ بابا د زیارت په یوه کونج کې مې د کیکرو له شاخونو څخه جوړه کړې وه. کمزورتیا مې ورځ په ورځ په زیاتېدو وه، هسپتال ته لاړم، ډاکتر زما چیک اپ وکړ او ویې ویل:

))ځوانه ستا د وینې کمبوت دی. زه درته دا دوایانې لیکم، خو هله به دا استعمالوې چې درې څلور خلتې وینه ځان ته تېره کړې او څومره زر چې کېدای شي وینه ځان ته وخېژوه، که نه دا دوایانې به هېڅ اثر ونه کړي(( .

ډاکتر نور هم څه ویل، خو زما پام د ړومبي ډاکتر خبرې اړولی و چې ویل یې.

))ستا وینه ډېره قیمتي ده، هر انسان ته ختی شي، خو د هر چا وینه تا ته نه شي ختی، څو چې ستا د وینې ګروپ نه وي پیدا شوی((.

د وینې د اخیستو خو راسره هېڅ درک نه لګېده، ډېره موده پس کورته لاړم او څنګه چې په پوړو و ختم، نو د مورکۍ سترګې را باندې ولګېدې. په غبرګو لاسونو یې له خپلې سینې نه درز پورته کړ او ویې ویل:

))ای لویه ځوانه راورسېږې، په زوی مې څه شوي دي، ته دې خوا راشه چې زیړي خو به نه یې نیولی((.

ماته چې خپل ځان معلوم و، هېڅ مې و نه ویل، کمرې ته لاړم او په کټ کې وغځېدم، مور مې رانږدې شوه، د سترګو زېږمې یې راته راښکلې او په یقین سره یې وویل:

))زویه زیړي وهلې یې، راځه بلا ګی دې واخلم، ځنډ مه کوه چې د زیړي با با زیارت دې بوځم((.

Download from: ketabton.com

زه که هر څو پوهېدم چې زيړي نه يم وهلی، خو مور ته مې ځنګه دا باور ورکړی و. دا خو مې ورته نه شو ويلی چې ما د وينې په سودا کې تاوان کړی دی. زيارت ته ورسېدو، مور مې څو وارې لاس نيولی د زيارت نه وګرځولم، له منجاور نه يې راته بندونه واخيستل او ډېره شيبه يې په لوړ غږ زما د رغېدو دعا وکړه. د زيارت منجاور مې مور ته وويل:

"بندونه به دې زوی ته له غاړې نه وترې، دا مالګه په هاغه مخامخ کوهي کې واچوې،اوه ورځې به دې زوی ته په اور پخکړی قتغ نه ورکوې، که خدای ته منظوره وي، زوی به دې روغ رمټ شي".

ما چې د يوې هفتې د پرهېز خبره واورېده، په زړه مې تياره راغله، ساه مې ډوبه شوه، مور ته مې وکتل، د هغې هم راته حال خراب شو، د غز ډډ ته يې تکيه ووهله، سترګې يې پټې وې، خو اوږده اوږده سا يې اخيسته، چې په دې وخت کې مې د مور زهيرتيا او زما فريب په مغزو کې يو توپان راوست او چې مور مې لږه ساه صورت شوه، نو د ډاکټر د چيک اپ ټوله خبره مې ورته سپينه کړه.هغې چې زما خبرې واورېدې، نو په غوسه يې راته وويل:

"چې داسې ده نو مخکې دې ولې راته نه ويلې، چې دا تکليف خو مو له سره کم وای، خو څه خدای دې اوس خېر راپېښ کړي".

له زيارت نه په واپسۍ مې د مور په وينا بندونه له غاړې نه وترل، خو مور مې په سبا نېغ هسپتال ته بوتلم. سرجن ته مو د چيک اپ پرچې ورښکاره کړې، هغه د وينې په بينک چيټ راکړ، خو په بينک کې زما د وينې ګروپ ميلاو نه شو. په وينې خرڅوونکو کې مو هم وليدل، خو داسې څوک نه وو راغلي چې زما د وينې سره يې وينه برابره وي. د علاقې د چرمين نه مو د وينې د خيريه هسپتال په نوم چيټ واخيسته، هلته هم پيدا نه شوه. د هغوی په ذريعه مو په اخبارونو ريډيو او ټي وي کې د وينې د ضرورت اشتهارونه ورکړل او چې دا ټولې لارې را باندې بندې شوې او هېڅوک حاضر نه شول چې وينه دې راکړي، نو د ړومبي ډاکټر خبرې مې يو ځل بيا په مغزو کې توپان راوست.

"ستا وينه ډېره قيمتي وينه ده. ستا وينه ډېره... ستا وينه"....

د وجود کمزورتيا او ورځ په ورځ د مصيبتونو لړۍ د ژوندانه د سټريا احساس راکړ، څلور پنځه ورځې مې چې په کور کې تېرې کړې، نو زړه مې ښه په تنګ شوی و. د ملنګ بابا په زيارت کې مې خپله کوډله رايادہ شوه. ورغلم، په خپل حال ولاړه وه، يوه ښه شېبه مې د زيارت په بوټو نظر واچوه او د ګلاب په هغه بوټي چې ما يې تر لاندې خرچه ساتله؛ نظر پرېوتو، ناڅاپه را په ياد شو چې څو ورځې وړاندې مې د دې بوټي لاندې خرچه پرېښې وه. ورغلم او په وارخطايۍ مې د بوټي بېخ ته لاس کړ، په پلاستيکي ګوتۍ کې بنده ټره ( پاکټي شراب) په ګوتو راغله، ناڅاپه مې په سر واړول او په ړومبي ځل مې محسوس کړل چې د خپلو وينو وروستی ګوټ مې هم تر مرۍ تېر کړ.

۲۸/۰۷/۲۰۰۰

پېښور لا لي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# سخت مصروف یم

یو خو دا ژورنالیزم ډیر سترې کار دی او په تیره بیا صحافتي ژورنالیزم، که یو ځل سرې د صحافتي ژورنالیزم په لومه کي بند شي نو بیا دې خدای (ج ) مل شي.

تیر کال چې زه دیوې مجلې د پښتو برخې اډیټر ووم ، نو دچا خبره له پښو نه مې بجلې ایستلې وې . دلیکنو په خاطر به کله په لیکوال پسې په یوه او کله په بل دفتر ګرځیدم. که به کوم لیکوال په مخه راغی، د روغبړ نه د مخه به مې د لیکنې غو ښتلو رنګین لفظونه سره راټول کړ او د لیکنې غوښتنه به مې ترې وکړه.

که په کوم لیکوال پسې به دفتر ته ورغلم نو د خپل مصروفیت نه به یې سر ټکا وه . داسې هم نه وه چې ګنې زه دمقالو څخه عاجز وم. او داځکه چې زموږ مجله دیوې موسسې له خوا خپریده اود ګذارې سره سمه یو څه حق الزحمه یې هم ورکوله .

ځیني لیکوالانو به په مستعارو نومونو څو مقالې راکولې او ځیني چې به دحق الزامې نه خبر نه وو او دفترونو ته به پسې لاړم ، نو له ډیرو به مې دا ټکی اوریده چې " سخت مصروف یم، د دفتر کا رونه راباندې دومره ډیر شوي دي چې دسر ګرولو ته هم نه یم وزګار، بخښنه غواړم " په دې وخت کې به مې ورو ورته له خولې نه ووتل : صا حبه زموږ مجله حق الزحمه هم ورکوي. نو پیاوړې لیکوال به په وښکو کې موسکی شو او ورو به یې راته وویل : "ځه کوښښ به وکړم چې یو څه درته ولیکم ، زورور سرې یې" زه په دې پو هیدم چې زه زورور نه ، خو مجبوراً به مې ورته کور ودانی ووایه. داسې وخت هم راغی چې ما دمجلې سره کا ر پریښی و او دیوې بلې ادارې سره مې کا ر پیل کړی و، زیا تي له دې منډو نه خلاص وم چې له چا نه مقاله واخلم یا چا ته حق الزحمه ور وسپا رم. اوس چې له ما څخه د کومې مجلې مدیر اوبیا دداسې مجلې مدیرچې حق الزحمه نه ورکوي ، لیکنه وغواړي، نو ډیر په اسانه مې خولې ته راشي چې " سخت مصروف یم " بخښنه غواړم. دمجلې مدیر موسکی شي او راته ووایي چې، دا د مصروفیت مرض په ټولو لیکوالانو لګیدلی، ددې به څه چاره وي ؟ خو دا مدیر اشنا مې خبر نه دی چې دهر مرض دوا شته او د لیکوال د مصروفیت دمرض دوا حق الزحمه ده. داځکه چې لیکوال په لیکنه زحمت باسي ،انرژي مصرفوي ،که یوه اندازه حق الزحمه ورکړل شي، نو دلیکوال روحیه به پیا وړې شي اوبلې لیکنې ته به یې هم زړه وتخنیږي . ماچې دمجلې سره کار کاوه نو یوه لیکوال به چې دهرې ګنې لپاره مقاله راکوله ، دا خبره به یې ضرور راته کوله چې حق الزحمه یې غواړم ، ځکه چې ددې لیکنې پر مهال م دوی قوطۍ سګرټ څکولي دي. ما به ورته په سینه لاس کینښود او ورته وبه مې ویل: استاده غم مه کو ه چې مجله چاپ شوه اول به تاته حق الزحمه در ورسوم.

یو وخت ما پوره شپږ میاشتې وروسته یوه لنډه کیسه لیکلې وه، مخکې له دې چې په یوه درنه ادبي غونډه کې یې نقد ته وړاندې کړم، دیوې داسې مجلې مدیر ته مې دمجلې په دفتر کې ولوستله چې حق الزحمه یې نه لرله. مدیرکیسه خوښه کړه اودچاپ لپاره یې لاس راوغځا وه. ما ورسره وعده وکړه چې په غونډه کې تر اورولو وروسته به

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يې ضرور دروسپارم. په همدې ورځ غونډه هم وه. د غونډې په پيل کې تر تلاوت وروسته يوه فرهنگي ملگري وويل : " زما قدرمنو ليکوالو او شاعرانو ! ما د يوې موسسې سره ژمنه کړې چې ديوې جريدې مسووليت پر غاړه واخلم او دا ژمنه مې ستاسې په ډاډ کړې ده. هيله کوم چې خپلې ليکنې به له ما څخه ونه سپموئ." لږه شيبه وروسته ماته بلنه راکړل شوه. ما چې کيسه د نقد لپاره ولوستله، يارانو يې خوبۍ او خامۍ راپه گوته کړې، ښه گرم بحث پرې وشو، کله چې له ستيج نه راکوزيدم نو هغه فرهنگي ملگرى چې له مخه يې دليکنو غوښتنه کړې وه، له خپلې چوکۍ راولاړ شو او ليکنه يې زما له لاسه کش کړه. ما خپله ليکنه په گوتو کې کلکه کړه او ورته مې وويل : صاحبه ما له يو چا سره وعده کړې، چې دا ليکنه به ورسپارم ، تاسې ته بله ليکنه درکوم. خو ملگري ليکنه کلکه نيولې وه او ټينگار يې کاوه چې نه همدا کيسه به راکوې. ما يې پر نه ورکولو ټينگار کاوه، خوهغه نه منله. بلاخره خوله يې زما غوږ ته رانژدې کړه او ورو يې وويل :

"اشنا حق الزحمه هم لري"

دحق الزحمې دنوم په اوريدلو سره زما گوتې سستې شوې او ملگري ليکنه خپل لاسي بکس ته ور ننه ايسته.

1382/12/01

کابل، خيرخانه

## عابد او نامريي څواک

که له پښتو شعر نه راتير شوو، لنډې کيسې او ناول ته تم شوو، نو و به گورو چې د شعر پر پرتله د کيسې او ناول لمنه ډېره خواره ده. څکه خو دې کمښت ته د باز محمد عابد پام شوى دى او د شعر له اسمانه يې د لنډې کيسې ميدان ته رادانگلي دي. کوښښ يې کړى دى چې د پښتو ادب لمنه په " نامريي څواک" نوره هم پسې ښکلې کړي.

عابد په پښتو ادب او په تيره بيا د بري پښتونخوا په هاغه شاعرانو او ليکوالانو کې شمار دى چې د هجرت په چاپريال کې يې شعرونه او کيسې ليکلي دي. او په اسانه يې د نن خبره د سبا ورځې نسلونو ته سپارلې ده.

زه نه شاعر يم او نه ليکوال، خو دومره بايد ووايم چې لنډې کيسې په پوره ليوالتيا لولم او خوند ترې اخلم. تر کومه ځايه چې ما ته مالومه ده د لنډې کيسې سرليک بايد په زړه پورې او عام فهمه وي. که داسې و نه شي، نو ډېر لوستونکي به يې له لوستلو څخه محروم پاتې شي. په تيره بيا د کتاب نوم خو بايد چې ډېر جذاب او په زړه پورې وى. زما په نظر که کوم بل ښه نوم يې ورته غوره کړى واى بده به نه وه.

Download from: ketabton.com

ښايي ځيني دوستان ووايي چې ضروري نه ده چې هر څوک دې پرې پوه شي. خو زه وايم چې دا هم ضروري نه ده چې ادب دې د ادب لپاره وي. ادب دې د ژوند لپاره هم وي. كه لږ مخته لاړ شوو او د غرب دروازه پرانيزو، نو و به ګورو چې په ميلونونو وګړي د لنډې كيسې او ناول لوستونكي دي. دا ټول اديبان نه دي، بلكې عام وګړي دي. چې د سفر او د رخصتيو په ورځو كې ناول او ياهم لنډې كيسې لولي.

د عابد نامريي ځواک مې له پيله تر پايه ولوست. ډېرې په زړه پورې كيسې يې په كې راټولې كړي دي چې د لنډې كيسې په معيار پوره دي.

زه د عابد صاحب په كيسو خپل نظر په لاندې ډول كاږم

د " ميا صاحب" كيسه كې د تورخم د دروازې خلاصيدل، د شلمان په ګرځوني كې د مجاهدينو راوتل، په كمې ډكې كې د عسكرو برچه پک دريدل او همداسې نور انځورونه يې په ښه برياليتوب ايستلي دي. كيسه په زړه پورې ده.

"په كړس كړس مو وخندل" كيسه كې عبدل ماما د جلال آباددی او په بدلمنو كوڅو ګرځي. څومره به ښه واى كه عابد صاحب دا كوڅې په سمه توګه راپيژاندلاى واى. ځكه چې اوس به هغه كوڅې نه وي او يا به ما غوندې ډېرو مسافرو نه وي ليدلي.كاش چې عابد د جلال آباد د ښار انځورګري په خلاص مټ كړاى واى.

له دې پرته " شكست" مباركه شپه" د قربانۍ چمړې" قيمتي وينه" ياهو. كام" دا ټولې كيسې يې په زړه پورې دي او د پيښور په ټولنيزو مسايلو ليكل شوي دي. كه عابد په دې كيسو كې هم په ښه توګه د پيښور انځورګري كړې وه، مثلاً د پيښور د ختيو كورونه، د چكړو نه ډكې كوڅې په شاډنډ كې د ميښو كتارونه لكه د روسانو د شوبلو كاروان، د ريكشو اوازونه او داسې نورډېر انځورونه دي چې شل كاله وروسته به يې نقشه بدله شوي وي، نو د كيسو خوند به يې يو په دوه شوی واى .

د " ښاپيرۍ اوديو" كيسه كه لږه غځيدلې واى نو كيسه به د ادبي ټوټې نه راوتې وه.

له دې هر څه چې راتير شوو، عابد په خپلو كيسو كې كركټرونه پر ځاى كارولي دي. هر كركټر ته يې ژبه وركړې ده. يوه يادونه بايد وكړم چې عابد ځيني كركټرونه په اردو وزمه انګليسي ژبې هم غږولي دي، بايد چې دلته يې په قوس كې عام فهمه لغاتونه هم ورسره ليكلي وو. ځكه چې هغوو لوستونكو ته به په كې ستونزې نه وې څوک چې په اردو وزمه انګليسي نه پوهيږي.

په اخيره كې عابد صاحب ته د دې ټولګې په چاپولو مباركي وركوم او هيله لرم چې په راتلونكي كې به تر دې لا ښې لنډې كيسې وليكي.

سليم حيات غربي لندن ٢٠٠٤/٢/ ٢٥

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## شیخ صاحب

سره له دې چې ډېره بریت یې پاك خرییل خودمحلې خلکوبه شیخ صاحب باله. ده دشیخ جنرل ستورپه نوم په محله کې ترهرڅاغېټ دوکان درلوده. ددوکان په سریې ځان ته داوسیدومناسب کورجوړکړی وچې دی اوده ښځه پکې استوګن وو. شیخ د اولاد له نعمته بې برخې و. دوکان ته یې دوه تنه شاګردان نیولي وو. هغه دمحلې له خلکوسره جوړتازه په ورین تندي کوله خودمحلې دخلکوپه دې ښه نه ایسیده چې شوم سړی و. تنخوادارو ته به یې ترتنخواپه پورهم سودا ورکوله. که پوره وړي به په ټاکلي نیټه پورپرې نه کړ، نودشیخ صاحب دپوردوصولولولاره به بدله شوه. داسې هم نه چې دپوره وړي نه دې په بدرنګ پوروغواړي. فقط په پورپسې به یې سودوتاړه. پوره وړی به مجبورو،که په دې تنخواکې نه و، نوبلې ته خوبه یې خامخا پوروړپې کړی و .

شیخ صاحب د پریم چند هندو زوی و. پلاربه یې په همدې دوکان کې تیل مالګه خرڅوله. په دوکان کې ځوزاړه ټیمان او شکورونه اوس هم له هماغه وخته پراته وو. مسین لوښـي به یې اخیستل او خرڅول. په پورتنۍ الماری کې یومنګی، یوه کوزه او یو چیلمچي د هغه د وخت یادګار وو. شیخ صاحب به دپنځه شپږ کلونوو، چې مور یې مړه شوه اودااوس چې د پیرصاحب د کور تر شا د شیخ صاحب کوارټرې دي، دا پخوا لوی میدانی و، چې په همدې میدانې کې یې وسوځوله.

شیخ صاحب به لا ماشوم وچې دپلارسره به یې په دوکان کې پوره لاس کوو. د ماشومتوبه یې ځیرك اوموخته کړی و. دهندوستان دتقسیم په وخت شیخ صاحب پوره زلمی شوی و. خط اوبریت یې راغلي وو. دملا نه به یې یوه چاړه ترله اولاس کې به یې کړی اچولې وه. دپاکستان دجوړیدو نه لږه موده وروسته یې پلارمړ شو او شیخ صاحب یوازې شو. دا داسې وخت وچې دهندوانو اومسلمانانو ترمنځ کرکه سیواشوې وه. ځوك هندوستان ته لاړل او ځوك پاکستاني شول. شیخ صاحب هم ایمان راوړ. نوریې نوسیالۍ او دوستۍ هم له مسلمانانو سره شوې. په هغوکسانو کې چې دشیخ ورسره رقابت و یوهم پیرصاحب و. پیرصاحب هم په ټوله محله کې پیژندلی شوی سړی و. دلرې لرې نه به خلك ورته راتلل ښې پیسې یې راټولې کړې وې دپراخه انګرخام کوریې درلود. په یوه کونج کې یې دوه کوټې وې چې په یوه کوټه کې به پیرصاحب استراحت کاوه او په بله کې به یې عقیدتمندو ته تاویزونه ورکول. دانګړ په منځ کې یې دتوت یوه ونه ولاړه وه چې سیوري ته به یې پنځه شپږ تنه خاص خاص مریدان هروخت ناست وو. دشیخ صاحب سره یې په دې نه لګیده چې دده په باب به یې زهرجنې خبرې کولې. که ځوك به دلرې ځایه دپیرصاحب په پته راغلل اوتصادفاً به یې دشیخ صاحب نه پوښتنه وکړه شیخ صاحب به ورته وویل :

هغه جعلي پیر! هغه فراډي! وروره که پیسې دربانديې زیاتې شوي وي، چیرته خوار غریب سره مرسته وکړه، خو د دې فراډي پیر په دام کې ځان مه ګیروه.

Download from: ketabton.com

پیر صاحب به همیشه د محلې سپین ږیرو ته د شیخ صاحب نه دا ګیله کوله چې عقیدتمندان یې له لارې ستنوي. او دا به یې هم ویلې چې څو، څو وارې مې ورته د مهربانۍ تاویزونه هم کړي دي او دا هر څه یې د ده د تاویزونو له برکته پیدا کړي دي.

په پیل کې د پیر صاحب او د شیخ صاحب په اختلاف څوك نه رسیدل، خو یوه ورځ چې شیخ صاحب د نورو مخ ته په ارمانجنه لهجه وویل:

"ډیر ښه مارکیټ په کې جوړیدی شي، خو دا پیرګوټې یې په هیڅ شان نه خرڅوي. څو، څو وارې مې ورپسې اجنټان لیږلي دي، خو دا پیرګوټې ورته غا ړه نه ږدي.

پیر صاحب چې په دې پوه شو، چې شیخ صاحب ترینه نه اوړي، نو د دوه تنو مریدانو په لاس یې د شیخ صاحب په دوکان کې غټې، غټې مږې خوشې کړې. سهار چې شیخ صاحب دوکان خلاص کړ پوه شوچې مږو یې په دوکان کې ښه خواري کړې ده او ځنې قیمتي څیزونه یې له خرڅلاوه ایستلي دي. په دې ورځ شیخ صاحب چاته څه ونه ویل. بله ورځ چې مږو خپل فعالیت لا تند کړی و، نو د شیخ صاحب فریاد ټولې محلې ته ورسیده. پیر صاحب راغی او شیخ صاحب ته یې وویل:

"شیخ صاحب، په دوکان کې دې یوه توره پیشو وساته، د مږو به بیا مخ هم و نه وینې. خو دا یوه خبره ښه په غور واوره چې په خیټه به یې مږه ساتې. پیشو چې په خیټه مړه وي، د خاوند د مال ښه ساتنه کوي.

شیخ صاحب د پیر صاحب مشوره خوښه کړه. یوه توره پیشو یې راوړه او په دوکان کې یې خوشې کړه. تیر ماخوستن یې په یوه کاسه کې نیم غوښن هډوکي راوړه او پیشو ته یې مخې ته کیښودل. دوکان یې وتاړه او نیغ کور ته وخوت.

شیخ صاحب ډوډۍ خوړلې وه او د چایو له پیالې نه یې په مزه مزه یو یو غړپ کاوه چې ناڅاپه یې د دوکان له لوري د کړنګ کړونګ آوازونه تر غوږو شول. نیغ پورته شو، د کوټې کړکۍ یې خلاصه کړه، سر یې ور وایست او د دوکان پورو دروازو ته یې وکتل. قلفونه یې له نظره تیر کړل، چې په دې کې بیا د د لوښو د جنګیدا غږونه پورته شول. شیخ صاحب په یوه منډه له کوره ووت او چیغې یې جوړې کړې:

"غل دی! غل دی. یه خلکه! په دوکان کې مې غل غلی شوی دی." په لږه شیبه کې د محلې ټول خلك د شیخ صاحب د دوکان مخې ته راټول شول. د شیخ صاحب فریاد لا نه و غلی شوی چې د محلې خلکو هم د بندو دروازو تر شا د لوښو د جنګیدا آوازونه واوریدل. دوه تنه د خلکو له منځ نه د شیخ صاحب سره د دوکان دروازو ته ورنږدې شول او وار په وار یې د وره په چول کې ولیدل. په دوکان کې یو مسین منګی د دوکان په څلورو کونجونو کې د فوټبال په څیر له الماریو سره لګیږي او د دوکان سامان سره ګډوډوي. شیخ صاحب چې دا حال ولید، سره لرې پرې راغله،

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ټول وجود یې لکه د پاڼي رپیده، هغو دوو تنو په تعجب سره یو بل ته وکتل، د خلکو په منځ کې هم زوږ پیدا شو ډېر په دې عقیده وو چې سړی سود خور دی، نه به یې دا دنیا خدای روزي کوي او نه هغه .

د خلکو تر منځ لا ګونګوسي رواني وې، چې پیر صاحب په داسې جلالي انداز کې راښکاره شو، لکه کوم چرسي چې تازه تازه د چیلم له سرې نه پوره نیم ګز لمبه ایستلي وي او له سترګو نه یې د اور سیندونه لاري کوي، ویې ویل:

"شیخ صاحب ! بیا څه پیښه شوې ده چې دا خلك راټول دي؟"

شیخ صاحب به لا ځواب ته خوله جوړوله، چې له دوکان نه د لوښو د جنګیدا غږونه راغلل. شیخ صاحب وویل:

پیر صاحب! خدای پوهیږي، دغه حال دی. فکر کوم چې د دوکان ټول سامان مې له کاره ووت.

پیر صاحب وویل: اخر څه خبره ده؟

شیخ صاحب وویل: نه پوهیږم، خو هغه مسین منګی په دوکان کې کونج په کونج لګیږي او له الماریو نه سامان غورځوي.

ــد خدای بنده، وخت ناوخت څه خیر خیرات وباسه، ټول عمر دې په شومتیا کې تیر کړو. څه خو د الله باچا د درویشانو خیال ساته. دا ټوله ستا د ګناهونو نتیجه ده، په دوکان دې د توري بلا سیوری شوی دی.

ــپیر صاحب هر څه چې کیږي ، په خدای به شي او په تا به شي، خو څومره ژر چې کیږي له دې بلا نه مې خلاص کړه.

ــخلاص به شې، خلاص به شې، خو،

ــد (خو) ځای دې په کې نه پریږدم. پیر صاحب! انشا الله خوشحاله به دې کړم.

پیر صاحب په داسې حال کې چې وریځې یې نیمایي تندي ته رسولې وې، په برندو سترګو یې شیخ صاحب ته وکتل او د دوکان په لور یې درانه درانه قدمونه واخیستل. څنګه یې چې د دوکان ور نیم کښوکړ، منګی راغی او د پیرصاحب په سینه مزبوت ولګیده. پیرصاحب ستوني ستاغ پرځمکه پریوت او د منګي له خولې نه یوه توره پیشو په کراره راووته او په یوه منډه د خلکو له نظره پنا شوه. په دې وخت کې شیخ صاحب وویل:

"ما به تاسې ته نه ویل چې دا جعلي پیر دی، فراډ کوي، د ساده باده خلکو جیبونه په چل ول تشوي، دا پیر نه دی، د فساد جړ دی. راځئ چې ټوله محله ورته یوه خوله شو او له دې محلې نه یې وباسو. که کور بهانه کوي، نو زه حاظر یم چې په دوه چنده قیمت یې ترې واخلم. خو چې دا له دې محلې نه ورك شي. ومو لیدل چې په منګي کې پیشو ننوتې وه او ده لا څه څه ویل".

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



پیر صاحب چې د شیخ صاحب خبرې په سړه سینه واوریدې، نو د حق یاهو نارې یې له خولې وایستلې او ویې ویل :

"شیخ صاحب! زه خو دا منم چې په منګې کې پیشو ننوتې وه خو ته دا ومنه چې په پیشو کې هم څه ننوتي وو.

د شیخ صاحب سر چې د پیر صاحب په خبره پوره خلاص شوی و، سترګې یې پر ځمکه وګنډلې او غوږونه یې بوخ ونیول چې په دې کې پرې پیر صاحب ورغږ کړ:

_شیخ صاحب! ګوره چې زما شیریني دې له یاده ونه باسې.

1998/ 11/ 07

پیښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# د قربانۍ چمړې

لوی اختر ته به لا څو ورځې پاتې وې چې زموږ محلې ته د کشمیري مجاهدینو په نوم څو تنه راغلل او د جامع مسجد مخې ته یې چې د محلې په بازار ګوټې کې دی، دفتر پرانیست. په همدغه ورځ د فلاحي مرستندویه ټولنې ځیني غړیو او د جامع مسجد امام صاحب سره په رابطه کې شول. د محلې په بازار ګوټې کې یې له یوه سر نه تر بل سر پورې په دیوالونو اشتهار پاڼې ولګولې. په پاڼو کې د جنګ له ټریننګ نه پرته له ځوانانو څخه غوښتنه شوې وه چې په عملي جهاد کې برخه واخلي او د هندوانو په مقابل کې وجنګیږي او خپله اسلامي فریضه ادا کړي. دغه راز یې په پاڼو کې د مجاهدینو دیوکال د فتوحاتو ګزارش هم وړاندې کړی و.

بله ورځ د مسجد د امام صاحب او مرستندویه ټولنې په ملتیا په محله کې کور په کور وګرځېدل او له مجاهدینو سره د مرستې غوښتنې یې وکړې. زموږ په محله کې چې زیاتره ځوانان بې روزګاره او د چرسو په نشه روږدي شوي دي، ځینو ځوانانو ټره وکړه چې که جهاد ته ځي او که نه، خو ټریننګ ته به ضرورځي، چې د چرسو له نشې نه خو په کې خلاص شي. دفتر ته لاړل او د ټریننګ په لست کې یې نومونه ثبت کړل. او وعده یې وکړه چې د لوی اختر نه پس به خامخا ټریننګ ته ځي. اختر ته به لا ځلور ورځې پاتې وې چې د جمعې مبارکه ورځ راورسیده. امام صاحب د جهاد په فلسفه او فرضیت خبرې کولې . د خبرو په ترڅ کې یې وویل:

"فرض شي جهاد هغه وخت چې وکړي تجاوز کفار په مسلمان ملت باندې .

دمحلې له ځوانانو نه یې په عملي جهاد کې د برخې اخیستو او د محلې له مالدارو خلکو نه د مجاهدینو لپاره د مالي مرستې غوښتنه وکړه. تر هغې چې اختر رارسیده، په دفتر کې د خلکو ګڼه ګوڼه ډیره وه. امام صاحب به هم وخت نا وخت په دفتر کې لیدل کیده. هر وخت به په کې د چایو پریماني وه. څوك به په چایو جوړلو بوخت وو او چا به میلمنو ته د چایو پیالې وړاندې کولې. اختر ته چې دوه ورځې پاتې شوې، مجاهدینو د محلې په ټول بازار کې بینرې وځړولې. په بینرو لیکل شوي وو:

))قربانی کی کهالین کشمیري مجاهدوکو عطافرماین.

اپناعطیات اورقرباني کی کهالین اپنا علا قی مین جامع مسجد کی سامنی دفتر مین جمع کراین . شکریه(( .

منجانب : تنظیم المجاهدین کشمیري

کله چې امام صاحب په بازا ر کې بینرې ولیدې په تندي کې یې ګونځې وغځېدې په قهراوغضب یې بینروته وکتل او له ځانه سره وګونیده دمجاهدینو په دفتر بې له سلامه تیرشواوپه مسجدننوت بلا خره دلوی اختر ورځ راورسیده. امام صاحب دسهار په لمانځه کې داختر دلمانځه وخت اته بجې وټاکه. اوه نیمې بجې به وې چې داختر دلمانځه داداکولو لپاره مسجدته ورسیدم. دخلکو ګڼه ګوڼه وه ، هرڅاکوښښ کاوه چې دلمانځه لپاره مناسب ځای ومومي.

Download from: ketabton.com

امام صیب دقربانۍ په فلسفه اومسایلو خبرې کولې. وخت داتوبجو نه په تیریدو و. دزیاترو خلکو نظرونه په هغه دیوالي ساعت وو چې دمحراب له پاسه لګیدلی و اوپه سوالیه انداز به یې دامام صیب په لورکتل. چې په دې وخت کې دامام صاحب خبرو زما توجه جلب کړه ویې ویل:

په کتاب کې راغلي دي چې وږي وي راشي کیني په بلې ستاسې په ورځ دلوی اختر روحونه د مړاوپلار ستاسې. نوای مومنانووږونو! ورکړئ غوښې دقربانۍ په ارواحو دانبیاوو کرامو اوپه ارواحود مړاوپلار خپل غربا او مساکینو ته. اوورکړئ څمړې دقربانۍ طالبانو ته دمسجد خپل چې واخلي پرې کتابونه دفقې اوعلم ددین خپل .

امام صاحب لږه شیبه چوپ پاتې شو په مقتدیانو یې ښکته پورته نظر واچاوه اوزیاته یې کړه:

اوریدلي مې دي چې شته ځینې کسان چې نه و باسي څمړې دګډورو نه دقربانۍ اولرې کوي ترینه وړۍ په واسطه دپاکي یاچړې ! نوای مومنانو ورونو نه کیږي قرباني ستاسې چې ونه باسئ څمړې دګډورونه دقربانۍ. بله داچې پیداشوي دي ځینې خلك چې په نوم دکشمیري مجاهدینو ټولوي څمړې دقربانۍ اوګرځوي یې ذریعه دمعاش خپل. نوای مومنانو ورونو ! ورنه کړئ داسې خلکوته څمړې دقربانۍ چې نه کیږي قرباني ستاسې په حضور دباري تعالی کې .

امام صاحب به لا نورهم څه ویل، خو دساعت ستن اته نیمو ته رسیدلې وه. د مقتدیانو دصبر پیمانه لبریزه شوې وه، د وروسته نه خلکو په صفونو جوړولو پیل وکړ. امام صیب مجبوراً دلوی اختر دلما نځه نیت تازه کړ. لمونځ اداشو ، خطبه وویل شوه، په مسجد کې داختر دمبارکیو سلسله جاري وه. ځان مې څه په شواخون له ګڼه ګوڼې نه راوایست ، په کوڅه کې دمجاهدینو بینرې همغسې ځړیدلې خو دفتر ته یې غټ کولپ لګیدلی و .

2000/ 03/ 17

Download from: ketabton.com

## خصوصي میلمه

تیره ورځ چې کمال صاحب له وخت نه مخکې دمجلې ایډیټ شوې پاڼې د میز له سر نه ټولولې، نو داسې معلومیده چې کوم ضروري کار پسې به ځي. د مجلې د مدیرپه میز یې سترګې ونښتې، د یوې خپرونې تازه ګڼې یې پام ور واړوه. مجله یې راواخیسته او له عادت سره سم یې د سرمقالې په لوستلو پیل وکړ. دوه درې جملې به یې لا نه وې لوستې، چې په تندي کې یې ګونځې وغځیدې. د مجلې مدیر ته یې وکتل، خوله یې څه ویلو ته جوړه کړه، خو مدیر صاحب په خپلو کاغذونو کې ډوب و.

په سرمقالې یې بیا سترګې ښخې کړې، یو پیرګراف به یې لا نه و لوستی، چې نیغ له چوکۍ نه پورته شو او مجله یې د میز په سر داسې په شرق وغورځوله، چې د مدیر صاحب پام یې بدل کړ او زیاته یې کړه:

"وګوره کنه مدیر صاحب، هماغه موضوع یې څیړلې ده چې تیره ورځ مو پرې بحث کاوه. ما درته نه ویلې چې زموږ هیوادوالو ته لومې غوړیدلې دي او د زرکو په څیر خرامانه، خرامانه د دام خولې ته ورځي، ځانونه پردي کوي او بیا په دې پردیتوب فخر هم کوي".

مدیر صاحب ترې پوښتنه وکړه چې په سرمقاله کې دې څه ولیدل چې دومره بې حوصلې شوې؟

کمال صاحب ځواب ورکړ:

هماغه څه چې اندیښنه مو ترې لرله. لیکلي یې دي چې د لوړو زده کړو خاوندان او مسلکي کدرونه په ډېرې توندۍ له هیواد او سیمې نه ووځي، په غربي ټولنو کې حل کیږي او خپل هویت له لاسه ورکوي. دا یې لا څه کوي چې د هیواد دښمنانو هم ورته زمینه برابره کړې ده او په ډیره اسانۍ سره مسلکي کدرونه له کورنیو سره قبلوي. عجیبه یې لا دا چې هلته یې د کار د قوې په توګه استعمالوي او لارې کوځې پرې جارو کوي".

کمال صاحب یو اوږد اسویلی وایست او زیاته یې کړه:

مدیر صاحب، ته وایه دا مسلکي کدرونه ( چې زموږ د هیواد سرمایه ده) چې دومره په اسانه د پردیو لاسونو ته ځانونه اچوي، په دوی څوك ملامت دي؟ آیا دوی سره دا فکر نه شته چې زموږ جنګ ځپلی هیواد به په دې وتوانیږي چې په راتلونکو دیرشو کلونوکې دې یو مسلکي کدرهم پیدا کړي؟ په داسې حال کې چې په هیواد کې ښوونه او روزنه په ټپه ولاړه ده.

کمال صاحب به لا نور هم څه ویل خو د مدیر صاحب نظر په دیوالي ساعت ولګیده، وخت پوره و، کمال صاحب ته یې وویل:

"خبرې دې په زړه پورې دي، خو وخت په تیریدو دی، درځه چې کورونو ته ځو".

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کمال صاحب چې له دفتر نه ووتو، د سرمقالې موضوع یې دومره په ذهن بوج شوې وه چې تر کوره په سپور او پلې مزل له سره پوه شوی نه و. چې په کور ستړی ستومانه ننوت، نو له ورایه یې مشر زوی ورته سلام وکړ او په خوشحالې یې ورته یو سرخلاصی لیك ورکړ. لیك په اردو ژبه و. ژباړه

کمال صاحب! سلامونه، څرنگه چې د کلنۍ ازموینې نتیجه اعلان شوې ده، له نیکه مرغه کامران د ټول ښوونځي د شاگردانو په نسبت په ښو نمرو له پنځم ټولگي نه فارغ شوی دی، چې تاسې ته مبارکي وایو. تاسې ته به معلومه وي چې زموږ ښوونځی د نرسرۍ نه تر پنځم ټولگي پورې دی او هر کال موږ له پنځم ټولگي څخه د ممتاز شاگرد د بریالیتوب په ویاړ یو شاندار پروگرام جوړوو، چې دا نیکمرغي ستاسې د زوی (کامران) په برخه شوې ده، تاسې به له موږ سره په دې پروگرام کې د خصوصي میلمه په توگه سبا سهار انشاالله په اتو بجو گډون کوئ، مننه.

د لیك په لوستلو د کمال صاحب وښکي و غځېدل، زوی یې په غېږ کې ونیوه، په دواړو رخسارونو یې ښکل کړ او د لسو روپو نوټ یې ورته په گوتو کې کېښود.

کمال صاحب چې څو شیبې له مخه تك تور گرځېدلی و، لږ تازه شو. د خپلو ورو بچو سره یې ټوکې ټکالې پیل کړې او د ماښام ډوډۍ یې لږ په آرام وخوړه. خو د ماخوستن له لمانځه وروسته چې د خوب لپاره په کټ کې وغځېده، نو د سرمقالې موضوع یې یو ځل بیا په ذهن سوره شوه. د خپلو هغو هیوادوالو په حال یې افسوس وکړ چې په پردیو ټولنو کې په ډېره خوشحالۍ ځانونه او اولادونه حل کوي. د ذهن په پرده یې د فلم د صحنو په څېر ډېر یاران یو، یو تر نظره تیریدل چې دی یې له کلونو، کلونو راهیسې د لیدو په طمعه و، هغوی ټول ورته پردي ښکاره شول، په خپل ژوند یې فخر وکړ او له ځانه سره یې وویل:

شکر دی خدایه! که په خپل هیواد نه یو، نو د هیواد د ځمکې په سر خو آسمان وینو، دا گوره په آسمان کې د ستورو نغرۍ، دا پریونې او داد ستورو کټ چې زه لا ماشوم وم او د خپل بام له سره به مې لیدل، کټ مټ هماغه شان دلته هم زموږ پر سر ولاړ دي. شکر دی چې کله ناکله راباندې د وطن لیونی او مست باد هم ولگي، په ایمان چې زړه مې پرې ښه شي.

کمال صاحب لا هماغسې په خوږ نظر د آسمان د ستورو ننداره کوله، چې خوب په خپله غېږ کې ونیوه.

سهار چې له خوبه پاڅېده، نو پوره اته بجې وې. د سرمقالې موضوع ترینه هیره شوې وه. د کامران پروگرام ورياد شو. زر زر یې ولمبل، په ولاړه ولاړه یې یوه پیاله چای وڅښلې، د کامران د ښوونځي په لور وخوځېده او چې څنگه د ښوونځي په کوڅه ورسم شو، نو د ښوونځي د لاوډسپیکرنه په اردو ژبه غږ پورته شو:

گلالیو ماشومانو! څرنگه چې د کامران د بریالیتوب په ویاړ راټول شوي یو، موږ سره په دې پروگرام کې د کامران پلار (کمال صاحب) خصوصي میلمه دی، خو تر اوسه یې تشریف نه دی راوړی، کله یې چې تشریف راوړ، نو خپله

Download from: ketabton.com

چوکۍ به سمبال کړي. د ښوونځي مدير صاحب ته بلنهورکوم چې ستاسې د لاسونو په پړقا کې ستيج ته تشريف راوړي او د رياست په چوکۍ کيني.

د پروګرام پيل له قومي ترانې نه کوو، هغه چا ته بلنه ورکوم چې له اول ټولګي نه تر پنځم ټولګي پورې د قومي ترانې سرټيم پاتې شوی دی او نن يې مورږ او تاسې د برياليتوب په وياړ راټول شوي يو. ستاسې د لاسونو په پړقا کې تشريف راوړي کامران خان.

کمال صاحب په دې وخت کې د ښوونځي بندو دروازو ته رسيدلی و، د لاسونوپړقا چې لږه غلې شوه، نو د کامران په خواږه ترنم قومي ترانه پيل شوه چې ويل يې:

پاك سر زمين شاد باد

کشورحسين...

2002/ 02/ 28

پيښور لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## انسان او سپی

د حضرت صاحب د حکومت به لا یوه اونۍ نه وه پوره شوې چې موږ څو تنو کلیوالو ملګرو په یوه شین سهار له پېښور نه په یوه موټرکې حرکت وکړ او څو چې توپ ډز کولو، نو موږ بیا خپل کلي ته رسېدلي وو. کلی څه و، بس تشې کنډوالې وې. هر څه نړدې- نړدې ښکارېدل، یوه ملګري وویل:

"اوهو، دا غر څنګه را لنډ شوی دی" .

بل وویل:

"لکه چې د کوم مین سوال به خدای قبول کړی وي چې وایي:

خدایه را لنډ کړې دا د څمکې تناوونه"

په کلي سر شو، په تشو کنډوالو ګرځېدو، هر چا ته د خپلو کورونو پخواني انځورونه سترګو ته کېدل. د کوڅو پر ځای په کورونو کې لارې جوړې شوې وې، چې د اردو ژبې د دې مشهور شعر ښه ترجماني یې کوله:

دیوار گیرا کیا میرے کچھے مکان کے

یارو نے میرے گھر مین راستے بنادئے

په لږ وخت کې مو ټول کلی له پښو څخه و ایستو، د کلي په بر سر کې مو د یوه باغ د لیدو تلوسه پیدا شوه، دا باغ زموږ د ماشومتوب د خاطرو یوه ذخیره و ه، مېوې به یې موږ په خامه کې خلاصې کړې وې. باغ ته ننوتو، په لیدو یې خدایږو ډېر اندېښمن شوو. په پسرلي کې یې د خزان بڼه نیولې وه. چیرته یو نیم شاخ به شنه پاڼه نیولې وه ، نور ټول وچ ښاخونه وو. موږ د باغ په رنځېدلي حال خواشینې شوو. د باغ په شمالي اړخ کې مو په یوسپي نظر پریوتو چې یو پیشنګوری یې په خوله کې نیولی او مخ په بره روان دی. ما و انګېرله چې ګوندې سپی دا پیشنګوری خوري، څمکې ته مې په داسې انداز لاس ښکته کړ چې سپي ته وښیم چې ګوندې کاڼې را اخلم، غږ مې پرې وکړ:

خوشې کړه !

سپي خپل سست ګامونه چست کړ او په لړه شیبه کې د باغ بر سر ته ورسېده. هلته یې په شنو کبلو پیشنګوری واچوه او خپله یې خوله د ویالې په لور ښکته کړه، له ویالې نه یې پیشو را پورته کړه او پیشنګوري ته یې نږدې واچوه.

موږ چې دا هر څه له لږ لېرې څارل، ورنږدې شوو. سپي چې موږ د ورتګ په حال کې ولیدو، راپسې یې وغپل او روان شو. موږ چې پیشو او پیشنګوري ته ښه نږدې شوو، سپی چې یو اندازه تللی و، ودرېد او بې واره یې له موږ پسې وغپل. موږ ولیدل چې سپي د پیشو تیونه د پیشنګوري خولې ته برابر کړي وو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



په دې حال زموږ ملګرو هر چا خپل نظر څرګندولو، خو زما په زړه کې دا خبره تېره شوې وه چې کېداې شي، انقلاب په حېواناتو مثبته اغېزه کړې وي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# د منني په ترخ کې

ګران لوستوونکي به هرو مرو وايي چې دې باز ته وګوره، هره ليکنه چې يې زړه منلې ده، د لنډې کيسې په نوم يې په دې ټولګه کې چاپ کړې ده .

هو، يارانو همداسې يې وګڼئ. دا ځکه چې ما د لنډې کيسې په هکله کومه ځانګړې تيوري نه ده لوستې. البته د پښتو ادب د نوموړو کيسه ليکوونکو کيسې مې زښتې زياتې لوستي دي او د همدوی پخو ليکوالو کيسو ما ته د کيسو ليکلو چل راښودلی دی .

په دې ټولګه کې ځينې کيسې داسې هم راغلي دي چې زما د ژوند پر تجربو او خاطرو تکيه کوي. مخکې له دې چې زه په کيسه ليکلو پيل وکړم، نو داسې ډېرې پيښې وې چې ما به په پيښور کې د ځنګ يارانو لکه کاروان، نثار او سالک ته په شفاهي ډول ويلې او همدې يارانو به راته ويلې چې دا په همدې ډول وليکه دا کيسې دي.

له دې کيسو څخه يوه هم د " ميا صاحب " کيسه ده. کله چې اسدالله غضنفر په پيښور کې د " داستانونه" په نوم دوه مياشنۍ مجله راو ايسته او د ميا صاحب کيسه يې په کې چاپ کړه او يارانو خوښه کړه، نو زه يې نورو کيسواو هغو پيښو ليکلو ته وهڅولم، چې زما په ژوند خورې وې.

ياده دې وي چې ما په کيسه ليکنه کې رياليزم له استاد سعدالدين څخه او تيوري مې د اسدالله غضنفرنه په مخامخ خبرو کې زده کړې ده. له دې پرته مې د اجمل پسرلي ژباړه " لنډې کيسې به څنګه ليکو" په ډېر غور لوستې او ډېر څه مې ترې د کيسې ليکنې په اړه زده کړي دي.

په اخيره کې د ډپلوم انجنير ستانه مير زهير او عارفه عمرلور څخه د زړه له تله منننه کوم چې په دې ټوله يې سريزې ليکلي دي او هم په لندن کې د ميشتو پښتنو فرهنګپالو څخه يوه نړۍ منته چې د دې ټولګې چاپلګښت ته يې ورينو تنديو منلی دی.

Download from: ketabton.com

# ګټه

په کار خو دا وو چې له څو شب جمعو نه پس مې سه روزه لګولې وه، خو داسې و نه شول. په اول ځل چې شب جمعې له تلم، نو د سه روزې اراده مې کړې وه. په اوله سه روزه کې راته پته ولګیده چې تر اوسه مې د دین له حکمونو څخه یو هم په سمه توګه نه دي تر سره کړي. تر دې چې لمونځ به مې هم له یوې مخې غلط ویلو. له سه روزې نه پس مې د تبلیغ سره مینه پیدا شوه. له تبلیغي ګروپ سره به په ګشت وتلم. خلکو ته به مو دعوت ورکولو .

یوه ورځ چې د مخه را ته د مازیګر له لمانځه نه پس د اعلان ویل شوي وو، په ډېر جرئت مې وویل:

-دوستانو او مشرانو، یو ضروري اعلان واورئ. زموږ‌او ستاسې کامیابي په دین کې ده. دین به په موږ او تاسې کې څنګه راځي او په ټول عالم کې به څنګه راځي؟ ددې لپاره محنت په کار دی. له دعا نه پس به یو ورور د ایمان او یقین خبرې کوي، تاسې ټول دوستان کینئ ، الله تعالی به ډېر اجرونه درکړي .

د دې اعلان نه پس مې له ځانه ډېره طمعه پیدا شوه. د دعا نه پس د خدای ولیان راټول شول او یو ورور پورته شو او په ایمان او یقین یې اوږدې خبرې وکړې. د خبرو وروسته ناستو کسانو د وخت لګولو ارادې څرګندولې او یو کس به لیکلې. یو کس پورته شو، خپل نوم یې واخیسته او په روانه هفته کې یې د سه روزې اراده وښوده. بل پورته شو او د یوې میاشتې اراده یې وښوده، زه هم په جذباتو کې راغلم پورته شوم او ناڅاپه مې له خولې ووتل: ولیکه، کرامت څلور میاشتې نغدې. له دې خبرې سره ناستو کسانو د "جزاك الله " آوازونه پورته کړل.

له جومات نه لا نه وم وتلی چې تبلیغي یارانو راته له نیك عمل سره د توفیق دعا د الله تعالی په دربار کې وغوښته او ځینو خو راته په ملا د شاباسې ټپونه هم راکړل. کورنۍ مې هم زما په اراده خبره شوه. مور، پلار، وروڼه او خویندې یو هم زما په اراده خوښ نه وو. مور به مې راته زما په غیاب کې د بچو خواریدل مخې ته کول، وروڼو به مې کورنې مسوولیتونو ته متوجه کولم او پلار خو مې راڅخه بیخي مخ اړولی و.

هغه ورځ هم راورسیده چې له کوره په جنګ او شور د څلورو میاشتو په اراده ووتم. تشکیل مو پنجاب ته وشو او د پنجاب لیرې پرتې سیمې او لویو او وړو ښارونو کې مو دعوت وچلوه. کله نا کله به مې د کور احوال په تلیفون اخیسته چې بلا پیسې رانه پرې خرچ شوې وې. ماشوم زوی او ماشومه لور به مې هر وخت سترګو ته نیغ نیغ کیدل.

هغه وخت هم راورسیده چې څلور میاشتې مې پوره شوې وې او کورته راغلم. کورنۍ مې راته ډېره خوشحاله وه. څو ورځې خو یې د یوه میلمه په څېر نازولم. د کور نه په سارا به هم دوستانو راسره مینه ښودله، هر چا به په امیر صاحب بللم او که رښتیا درته ووایم په ما به د امیر صاحب غږ ډېر ښه لګیده. یوه شي ته چې ځوریدم، دا و چې

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



زما په غیاب کې مې زوی ډېر بېسره شوی و او ورېي لور خو مې له سره نه پېژندم. نو ځنګه به يې پيژندلی وم، ښويه مخ له کوره وتی وم او له ببرې ږيرې سره په کور راننوتم .

اف خدایه! چې دا د کرکټ لوبه خو دې له سره په دې دنيا کې نه وه پيدا کړې. زما به لا يوه هفته له دورې نه د واپسۍ نه وه شوې چې د ورلډکپ 99 میچونه پیل شول. بس ټينګ ورته نه شوم، په ډېره سپين سترګۍ مې کور په سارا د کرکټ میچونه په تلويزون کتل. او همدا سپيره میچونه وو چې زه يې د خلکو پر وړاندې سپك کړم. هر چا به راته ويل: د خدای بنده، تا خو ډېر محنت کړی دی، د دين په لار کې دې پوره څلور مياشتې لګولي دي، ولې دې خپله خواري په سين لاهو کوې، تبليغيان خو چې څلويښت ورځې ولګوي، اول په مصلحت له کوره تلويزون ورکوي او که بيا و نه شي، نو د کوټې له سره ايسته کوځې ته ارتوي. ته لا ځنګه تبليغي يې چې له سهاره تر مازيګره تلويزون ته ناست يې او ويل کيږي چې تر نيمو شپو په وي، سي، ار فلمونه هم ګورې.

تر هغې چې د کرکټ میچونه روان وو، نو کور په سارا به مې روزانه ستغې سپورې اوريدې. او روزانه به مې له خلکو سره جنګونه کول.

يره زه خو وايم چې تبليغ کې به هم بنده په قسمت قبليږي. هغه توری وګوره کنه د دنيا بد عمله ، چرسي او جوارګر سړی و، فقط درې سه روزې او يوه چهله يې لګولې ده، الله تعالی پرې رحم کړی دی، په دعوت کې يې اثر دی، داسې شب جمعه نه وي چې ده په کې پنځه شپږ کسه ځوانان شب جمعې ته نه وي تيار کړي .

اف خدایه! دا په ما څه چل شوی دی، ځوك مې په خوله پياز هم نه خوري. هغه تيره ورځ خو مې د تره زوی راته بدې خبرې نه وې کړې او زما پرې لاس اوچت شو. هغه خو ټولې خبرې زما په ګټه کړې وې او رښتيا يې ويل چې زه لا د خدای په لاره کې نه يم قبول شوی او ما د تبليغ تسلسل سم نه دی تعقيب کړی. دا يې هم سمه خبره کوله، چې زما څه کار و چې د يوه دهري نه مې په غسل کې د فرضو پوښتنه کوله. زه څومره بې حوصلې شوم چې خبره تر لاس اچولو ورسيده. خو څه څه چې وشول هغه وشول، يوه ګټه خو مې وکړه، اوس راته د کرامتي پر ځای خلك امير صاحب وايي.

/ 199912/03

پيښورر لالي باغ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# ښاپیرۍ او دیو

شاعر په ګڼ بازار کې د روزګار چرتونو په مخه کړی و، چې نا څاپه یې تخیل غزونې وکړې، له زړه نه یې نرۍ څړیکه پورته شوه او ځنګه چې یې په شونډو زمزمه شوه، نو د سرك په غاړه له ولاړو پولیسو نه پرې یوه غږ وکړ:

ــدې خوا راشه! دا کنځلې دې ځنګه وکړې؟

ــکنځلې خو مې نه دي کړي تاڼیدار صاحب.

ــچې کنځلې دې نه کولې، نو بیا دې د سودایانو په څیر له ځانه سره څه اوتې بوتې ویلې؟

ــاوتې بوتې خو مې نه دي ویلي تاڼیدار صاحب.

ــاخر څه بکواس دې کولو، شابه ووایه که نه چمړه درنه وباسم.

ــهسې ما ویل ښاپیرۍ یو څه راوړي وو، خو د دیو بوږنوونکی غږ یې چې واوریده، نو په یوه ترپ کې یې ښنې وایستې.

ــغلی شه، د خان بچیه. په ویښه خوبونه ګورې او هغه هم د دیوانو او ښاپیرو، چرسي خو به نه یې؟

ــنه قربان.

ــدا قربان دې د چرسیانو دی، هلکو! دی بوځئ او په حوالات کې یې بند کړئ .

پیښور2001/ 04/ 12

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## Yahoo. Com

شهسوار بیگا ټوله شپه له خوشحالۍ نه په کټ کې لټ په لټ اوښتی و، خو حرام شه که یوه سترګه خوب یې کړی وي. نن یې له سهاره مازیګر ته داسې تلوار و، لکه د جوزا د میاشتې روژتي چې د ماښام بانګ ته انتظار باسي. دم ګړۍ به یې ساعت ته کتل، کله به یې ځان په ورځپاڼه مصروف کړ او کله خو به پا څیده او بې مقصده به یې داسې ګړندي ګامونه واخیستل، لکه له کوم چا نه چې غل جیب وهلی وي .

شهسوار له یوې میاشتې راهیسې په انټرنیټ کلب اموخته شوی و، هره ورځ به بلا ناغه ورته. په پیل کې یې له انټرنیټ سره دومره مینه نه وه، خو په کرار، کرار ورته په زړه پورې کیده. ماته کوډه انګریزي یې هم زده وه او د چا خبره خپله جاله یې تر ګودره رسولی شوه.

تیره ورځ چې شهسوار په انټرنیټ کې د www.afghanonline.com ته لاړ، نو په لسګونو ادرسونه یې ولیدل چې په اصطلاح په لین کې وو. یو یو یې له نظره تیر کړ، د نرګس په نوم یې زړه اوبه وڅښلې، موس یې د نرګس په نوم کلیك کړ، لږه شیبه وروسته د نرګس وینډو پرانیستل شو او له واره یې ورته ولیکل:

ــسلام نرګس.

ــوالیکم سلام فالکن، زما نوم نرګس نه بلکې پرښته ده.

ــبخښه غواړم پرښتې، زه هم شهسوار یم، څو کلنه یې؟

ــکه څه هم نجونې خپل عمر ښودلو سره علاقه نه لري، خو زه د دوه ویشت او درویشت کلونو تر منځه یم، ته څوکلن یې؟

ــزه به د 2002 م کال د اپریل په لومړۍ نیټه پنځه ویشت کلن شم.

واده دې کړی؟

ــرښتیا درته ووایم.

ــکه پول را سره ونه کړې، نو رښتیا به راته ووایې ځکه چې ته خو په دروغجنه ورځ پیدا یې.

ــښه، نو چې رښتیا را باندې وایې، نو ما واده کړی دی.

ــمیرمن دې ښکلې ده؟

Download from: ketabton.com

ـهو، ډېره ښکلې ده.

ـسواد لري؟

ـهو، د پېښوريانو په اصطلاح ميټرك پاس ده.

ـله تا سره مينه لري؟

ـهو، له حده زياته.

ـاو ته له هغې سره مينه لرې؟

ـمتاسفانه د ښکلي صورت او نيك سيرت سره- سره کابو دا څلورمه مياشت ده، چې هيڅ مې په زړه کې دهغې مينه ځای نه نيسي.

ـدا ولې؟

ـنه پوهيږم، خو دومره ويلی شم چې د زړه بيله دنيا وي. ته باور وکړه چې همدا اوس له تا سره په چټينگ کې اخته يم، ستا مينه مې بې واره په زړه کې په ټوپونو ده.

ـتا زه ليدلې يم؟

ـنه، د سر په سترګو خو مې نه يې ليدلې، خو د زړه په سترګو دې وينم او ښکلا ته دې حيرت وړی يم.

ـته خو ليونی نه يې؟

ـنه ګرانې، خو مينه ضرور ليونۍ وي.

رښتيا تا خو دا ونه ويل چې تعليم دې څومره دی!؟

ـزه هم په اصطلاح ميټرك پاس يم.

ـچيرته اوسيږې؟

ـهمدلته، په پېښور کې.

ـته واده شوې يې؟

ـهو، دا څويمه مياشت ده چې واده کړې يم.

ـخاوند دې څنګه دی؟

Download from: ketabton.com

ــخاوند چې هر څنګه وي د ښځې جامه وي.

ــله خاوند سره دې مینه لرې؟

ــبې اندازې مینه ورسره لرم.

ــاو هغه له تا سره مینه لري؟

ــنه خیر، له ډیرو کوښښونو سره- سره ونه توانیدم چې په زړه کې یې ځای پیدا کړم.

ــخاوند دې څومره بدبخته دی، چې له پرینښتې سره مینه نه کوي.

ــشهسوار خانه، زما وخت په پوره کیدو دی، زه درنه اجازت غواړم.

ــپرینښته جان، مخکې له دې چې د خدای په امان درته ولیکم، دادی زه خپل عکس درلیږم او له تا نه هیله کوم چې ته به هم خپل عکس سبا ته راولیږې.

ــسمه ده، د خدای په امان، شهسوار خان.

ــد خدای په امان، پرینښه جان.

په همدې ورځ شهسوار د نرګس ادرس د یاهو په میسنجر کې له ځانه سره ونیوه. په بله ورځ شهسوار په ټاکلي وخت انټرنیټ کلب ته لاړ. په ډیرې بې صبرۍ یې خپل امیل چیك کړ، ویې لیدل چې د خطونو په قطار کې ورته د نرګس خط هم راغلی دی په ډیرې بې صبرۍ یې تر ټولو د مخه د نرګس په نوم موس کلیک. په لږه شېبه کې ورته د نرګس خط خلاص او په دې جمله یې سترګې ولګېدې

.My Dear Frend This Picture for uتر خط لاندې پاڼه ورو ورو په خلاصېدو شوه. تر هر څه د شهسوار سترګې په طلایي ویښتو ولګېدې او سم له واره عکس په داسې انداز کې راښکاره شو، لکه د یوې حیاناکې پېغلې له مخه چې پوړنی وغورځېږي. د شهسوار له خولې ناخوداګا ووتل:

”واه واه دا څومره ښکلې ده، دا خو په رښتیا هم پرینښته ده،. دومره ښکلې انجلۍ خو ما په ژوند کې هم نه ده لیدلې. چې عکس یې رالیږلی، فکر کوم چې لاره ورسره جوړیږي. نن ترې خامخا د ملاقات وخت اخلم“.

شهسوارخپل میسنجر خلاص کړ ، خو نرګس آن لاین و ه. پیغام یې ورته ولیږه، د عکس د رسیدو یې ترې مننه وکړه او د سبا ورځ لپاره یې د چټینګ وخت ورته وښوده .

پرون چې شهسوار څنګه میسنجر خلاص کړ ویې لیدل چې نرګس په لاین کې ده. موس یې پرې کلیك کړ او له واره یې ورته ولیکل:

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ـپريښتې سلام.

ـواليكم سلام شهسواره.

ـد عكس را ليږلو دې يوه دنيا مننه، واقعاً ډېره ښكلې يې او كه مبالغه يې و نه گڼې نو زه خو يې د ښكلا تكميل بولم.

ـشهسواره، زه خو د ښكلا په تكميل عقيده نه لرم.

ـد ښكلا په تكميل به دې عقيده پيدا شي، خو كه يو ځل دې پر چا زړه وبايله.

ـكه درته ووايم چې ما هم زړه بايللى، نو ته به باور وكړې؟

ـڅنگه به باور نه كوم، ته خو پريښته يې او پريښتې خو دروغ نه وايي. خو دا راته ووايه چې هغه نيكمرغه انسان څوك دى چې پريښتې پرې زړه بايللى دى؟

ـهغه نيكمرغه انسان ته يې.

ـدا څه وايې، داسې به نه وي!!

ـهمداسې ده.

ـنه، نه داسې مه وايه. ژر شه ووايه چې ما ټوكې كړې دي، كه نه زه به له ډېرې خوشحالۍ نه سكته وكړم.

ـنه گرانه، د سكتې نوم مه اخله، چې زما زړه هم په درزا شو.

ـښه دا راته ووايه چې څنگه كيداى شي چې زه او ته له نږدې څخه ووينو!؟

ـڅنگه چې ستا خوښه وي، خو له يوې خبرې نه ويريږم ، چې كه زما او ستا په تعلق ستا ميرمن خبره شي، نو بيا درته څه جنجال پيښ نه شي.

ـته د دې خبرې هيڅ غم مه كوه، اول خو هغه خبريږي نه او كه خبره هم شي، زه يې دومره په كيسه كې نه يم.

ـښه نو چې داسې ده، كله چې ستا خوښه وي، سره و به ووينو.

ـزه خو وايم چې همدا نن په همدې شيبه مو سره ليدلى وى.

ـنه گرانه، اوس خو نه كيږي، سبا ته وخت او ځاى وعده كړه چې سره ووينو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ـسمه ده، سبا ته د مازیگر په څلورو بجو د باغ ناران جنوبي اړخ ته راشه، زه به هم ځان درورسوم . او ریښتیا ښنګه به سره پیژنو؟

ـاسانه خبره ده، زه به په تورو جامو کې درشم او حجاب به مې هم پر مخ اچولی وي.

ـنه ګرانې، تورې جامې مې هیڅ نه خوښیږي او حجاب خو مې لا تر هغې هم زیات بدې شي.

ـښه نو ته ووایه چې څنګه جامې واغوندم؟

ـهر څنګه چې وي، خو چې د هندي فلمونو د جونو په څیر دې یوه زیږه لوپټه له غاړې تاوه کړې وي او بې لستوڼو کمیس دې په تن وي، نو پیژندل دې څه دومره ګران کار نه دی.

ـبلکل سمه ده، تر سبا مازیګره پورې د خدای په امان، ستا پرینښته.

ـد خدای په امان، ستا شهسوار.

دا ورځ په شهسوار باندې د کال هومره اوږده شوه، خو بلاخره څلور بجو ته لږ وخت پاتې و چې شهسوار د باغ ناران په لور وخوځیده. باغ ته چې ورسیده، نو له ټاکلي وخت نه لس دقیقې تیرې وې. سم له واره یې د باغ جنوبي لور ته حرکت پیل کړ. له لیرې یې ولیدل چې یوه سر لوڅې انجلۍ چې زیږه لوپټه یې له غاړې نه تاوه کړې ده، د ګلاب د بوټي تر څنګ ولاړه ده او یو سور ګلاب یې د ډنډرکي سره خپلې پوزې ته راښکلی دی.

شهسوار چې لږ ورنږدې شو، نو له واره یې پرې غږ وکړ چې پرینښتې!

جینۍ مخ راواړوه او په ړومبي ځل چې شهسوار خپله میرمن دومره بې حجابه ولیده، نو له پښو نه یې ځمکه وتښتیده.

عرفان کلتوري مرکز، پیښور

2002/ 01/ 04

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# ایمان دی ایمان

په هیواد کې د اسلامي نظام د راتلو څخه تقریباً دوه میاشتې وروسته په داسې حال کې چې کورنۍ مې په پېښور کې اوسیده، ګوښی د جلال آباد ښار ته راغلم او په صرافۍ مې پیل وکړ. د شپې تیرولو لپاره به د یوه نیږدې عزیز هوټل ته تلم او په عین حال کې به مې ورته منشیتوب هم کاوه .

یو مازیګر د خپل عزیز سره د هوټل د لومړي چت په پیک پر چوکۍ ناست وو م او چای مو نوش جان کولې چې زموږ یو بل کلیوال چې هغه هم د صرافۍ کار کاوه، د مخابراتو په چوک په داسې حال کې ګړندی تیریدو ، چې شاته یې یو پیټی هم اچولی .

عزیز مې پرې غږ وکړ:

سیداله! داڅه شی دې شاته اچولی دی، چې داسې په منډه یې؟

سیدال چې په ګوتو ښوورلو یې د پیسو اشاره کوله، ظاهراً یې وویل:

الوګان دي، الوګان.

عزیز مې بیا ورغږ کړ چې د الوګانو پیټی خو داسې نه وي اخر دا څه دي چې دومره وارخطا یې؟

سیدال بیا د ګوتو په ښوورلو اشاره وکړه او ویې ویل:

ته خو بیخي په نیمه نه پوهیږې درته وایم چې الوګان دي، الوګان.

خو عزیز مې پرېښودونکی نه و او بیا یې پوښتنه تکرار کړه.

د سیدال یې هم زړه راپړسولی و، نو په لوړ غږ یې ورته وویل:

ایمان دی، ایمان او بې ایمانه ټوپکیان راپسې لګیدلي دي، درنګ ساعت له یې رانه اخلي.

Download from: ketabton.com

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*